# د ټاکنو په بهیر کې
# د خبریالانو
# لارښود کتاب


بې پولې راپور ورکونکي

د اطلاع رسوونې د آزادۍ په ملاتړ

ORGANISATION
INTERNATIONALE DE
francophonie

# د مطالبو نوم لړ


مقدمه

د لاربنود کتاب پیژندنه

۱. خبریالانو لپاره دستورالعمل

۱,۱ د عقیدې او بیان آزادي

۱,۲ رایه ورکونکو ته د پوهاوي مکلفیت

۱,۳ دقت او بیا کتنه

۱,۴ انډول، بې پرېوالي او امانت ساتنه

۱,۵ خپلواکي او صداقت

۱,۶ ټولنیز مسولیت

۲. د ټاکنو د بهیر څانګړنې

۲,۱ حقوقي چوکاټ

۲,۲ د رایه ورکونکو نوم لیکنه

۲,۳ د ټاکنو د تنظیم اداره

۲,۴ کاندیدان او ګوندونه

۲,۵ رسنیو ته مناسب لاسرسي

۲,۶ د ټاکنو ورځ

۲,۷ د ټاکنو د پایلو اعلان

۲,۸ پرټاکنو نورڅارونکي

۲,۹ له ټاکنیزو درغلیو سره باید څه ډول چلند وشي

۳. د رسنیو له لارې د ټاکنیزو مبارزو پوښښ

۳,۱ د رسنیو د پوښښ د پروګرام طرحه

۳,۲ د ټاکنیزو مبارزو د ادبیاتو مدیریت

۳,۳ وګړنیزه خبریالي ـ محور

۳,۴ د سیاستوالو مرکې

۳,۵ نظرسنجي

۳,۶ د کړکیچ په سیمه کې د ټاکنو رسنیز پوښښ

۳,۷ په بې ثباته حالت کې د ټاکنو د بهیر رسنیز پوښښ

لنډیز: د ټاکنو په بهیر کې د خبریالانو دسترالعمل

# مقدمه

امکان لري چې ټاکنې د دموکراتيک بهير پوخوالي وي او همداراز امکان لري د سولې او ثبات په وړاندې د ګواښ لامل هم شي. هغه لاره چې هيوادونه يې غوره کوي، تر ډيره د رسنيو، حکومت، بنسټونو، سياسي ګوندونو، مدني ټولنې او خلکو لخوا پانګونې او همدرازد هغې ژمنې کچې پورې اړه لري چې د ټاکنو د بهير په تړاو شوې ده. د آزادو او عادلانه ټاکنو ترسره کول يوازې په مناسبه فضا کې د راپې ورکولو په معنا نده. بلکې رايه ورکونکي بايد د سياسي ګوندونو، کانديدانو او د ټاکنو بهير په اړه پوره معلومات ولري، ترڅو د معلوماتو په رڼا کې خپل د خوښې وړ کانديد ته رايه ورکړي.

د ټاکنيزو مبارزو پړاو د يوه ملت په سياسي ژوندانه کې حساس بهير دي چې د هغې په لړ کې امکان لري خبريالان وځورول شي او يا تر ښکيلاک لاندې ونيول شي او يا  هم خبريالان له خپلې اصلي دندې چې خلکو ته عامه پوهاوي ورکول دي منحرف شي. تر ډيره د ټاکنو په بهير کې ځورونه ټاکنې تر اغيزې لاندې نيسي. په داسې حال کې چې کيداي شي په نورو مواردو کې خبريالان يوازې د ټاکلو ډلو د پيغامونو او پروپاګندو د خپرولو خپرونکي وي.

*د ټاکنو په بهير کې د خبريالانو لارښود کتاب* د بې پولې راپورورکوونکي سازمان او د د فرانسوي ژبو هېوادونو نړيواله سازمان لخوا جوړ شوي دي ترڅو له خبريالانو سره په بريالۍ توګه د ټاکنو د پيښو په خپرولو کې مرسته وکړي. دا لارښود کتاب

ټولو هغو خبريالانو لپاره چې په (سيمه ايزو، ملي او نړيوالو رسنيو) يعنې ( په راډيو، ټلويزيون، چاپي او بريښنايي رسنيو کې) که هغه ( دولتي، شخصي او يا ټولنيزې وي کار کوي، ګټور دي.

دا ډيره مهمه ده چې خبريالان د اخلاقي او مسکلي ارزښتونو په اړه، لازمې روزنې ترلاسه کړي ترڅو د کانديدانو په اړه متوازن معلومات د خپلو پروګرامونو له لارې خلکو ته وړاندې کړي. خبريالان بايد وتوانيږي چې وګړو سره د هيواد د وضعيت په پيژندنه کې مرسته وکړي او له هغوی سره مرسته وکړي چې د ټاکنو پرمهال په سمه توګه پريکړه وکړي.

خبريالان، د رايه ورکونکو ترمنځ له يوې خوا او د سياسي ګوندونو او کانديدانو ترمنځ له بلې خواد منځګړو افرادو په توګه د معلوماتو په ليږد کې اغيزمنه ونډه لوبوي. دا ونډه بايد د خبريالانو لخوا د حقايقو په روښانه کولو سره پلې شي. يوائې يو ناسم ريپوټ کولي شي د ټولو ټاکنو پايلې تحريف کړي.

په يوشمير حکومتونو کې چې خبريالان د حکومت لپاره غوړه مالي کوي، کيداي شي يوائې د حاکم ګوند کانديدانو لپاره تبليغ وکړي. په يوشمير نورو هيوادونو کې کيداي شي خبريالان د کانديدانو ترمنځ د ريښتنې مناظرې او بحث په جوړولو کې ناکام پاتې شي او پر ځاي يې د يوه سياسي مخالف پر ضد کرکه راپارونکې ويناوې خپرې شي او يا دا چې د تخنيکي وړتياو نه لرلو له امله، امکان لري د سيالو کانديدانو وړتياوې او ښې ګڼې په ناسمه توګه بيان کړي.

د خبريالې مسلک، د نړيوالو اخلاقي قواعدو او رفتاري دستورونو څخه اغيزمن دي. دا کتاب يوائې له نظري پلوه هغوی لارښوونه نکوي بلکې د هر هيواد او ټاکنو د ځانګړنو له مخې په عملي توګه د هغوی پلي کول او تطبيق په پام کې نيسي. همداراز دا کتاب د ريښتيني ژوندانه د قضيو بيلګې هم کاروي.

دا لارښود کتاب، ټولو هغو پوښتنو ته چې د ټاکنو د بهیر د رسنیز پوښښ پرمهال راپیدا کیږي د عملي ځواکونو تګلاره مطرح کوي. په داسې توګه چې دا موارد، د ټاکنیزو مبارزو له پړاو د رایه ورکولو د پړاو د بیلابیلو ځانګړنو د ریپوټ ورکولو قواعدو لرونکي دي. دا کتاب داسې تکنیکونه د خبریالانو په واک کې ورکوي، چې کولی شي د خبر په اړه په سمه توګه پوه شي هغه تحلیل او خپور کړي. دا کتاب هغوی ته وړتیا ورکوي ترڅو د ټاکنو پرمهال د خپلواکو او ځانګړو څارونکو په توګه خپله ونډه ادا کړي او همدارنګه د خپلې دندې په اړه زیات پوهاوي ولري. له ټولو دغو ځانګړنو سره سره، شته کتاب په ټولنه کې د دموکراتیکو فعالیتونو د بهیر ټینګښت ګړندي کوي.

د فرانسوي ژبو هېوادونو نړیواله سازمان او بې پولې راپور ورکوونکي غواړي چې خبریالان باید مسلکي روزنه، د خپلو قانوني وړتیاو په اړه پوره پوهاوي، کافي معاش او مناسبو توکو او وسایلو څخه برمن وي. خبریالان، د ګټور فعالیت په موخه د عادي ورځو په لړ کې او همدارنګه د ټاکنو پرمهال ټولو دغو امتیازاتو او امکاناتو ته اړتیا لري.

د "باماکو" ۲۰۰۰ د اعلامیې پر بنسټ ( د فرانسوي ژبو هیوادونو لپاره، د دموکراتیکو فعالیتونو، حقونو او آزادیو لومړني بنسټیز اصول)، د فرانسوي ژبو هېوادونو نړیواله سازمان هڅه کوي چې د سوله ایزو سیاسي فعالیتونو ملاتړ او په دغه هیواد کې د دموکراتیک فرهنګ خپرولو په موخه د رسنیو تکثر حفظ کړي.

د فرانسوي ژبو هېوادونو نړیواله سازمان د رسنیو د فعالیتونو قانوني کولو او له خبریالانو د قانوني ملاتړ رامنځته کولو په موخه فعالیت کوي. همدارنګه دا موسسه هڅه کوي چې د بیان د آزادۍ او په آزاده توګه د معلوماتو د خپرولو په برخه کې قوانین وضع کړي. له هغو مقررات وضع کونکو بنسټونو، چې د

فرانسوي ژبو هیوادنو د رسنیو په شبکو (Refram) پورې اړه لري ملاتړ کوي. همداراز دا موسسه د خبریالانو د مسلکي اصولو د پیاوړتیا له هڅو هم ملاتړ کوي. دا موسسه ډیري وخت، د ټاکنو پرمهال، سیاسي کړکیچ او یا له کړکیچه وروسته وضعیت په اړه داشان دریځ غوره کوي.

هوګو سادا

*د دموکراسۍ، سولې او بشري حقونو لپاره د فرانسوي ژبو هېوادونو نړیواله سازمان*

*رالیږل شوي استازي*

کریستوف دیلیور

*د بې پولې راپور ورکوونکي عمومي مدیر*

ډیر خوشحاله یو چې رایه ورکوو.




KOZA

## د ټاکنو پرمهال د خبریالانو لارښود کتاب

دموکراسي تل د پوهو، وګړو د رایو او بیان د آزادۍ پر حق متکي ده. رسنیز بنسټونه، د خبرونو او بیلابیلو نظرونو په خپرولو سره د ټاکنو په بهیر کې کارنده ونډه لوبوي. رسنۍ د کاندیدانو، ګوندونو او د هغوی د پروګرامونو د بشپړې پېژندنې لاره اواروي. خبریالان په ټاکنیزو مبارزو کې د خلکو ملي ګډون په ساتلو سره ،په دموکراتیکو بحثونو کې د وګړو په اغیزمنه توګه ګډون سره مرسته کوي.

د دموکراسۍ د ساتونکو په توګه، خبریالان هم د ټاکنو د پایلو د مشروعیت او منلو په برخه کې په ځانګړې توګه په هغو هیوادونو کې چې دموکراسۍ ته د ورتګ په حال او یا لـه سیاسي کړکیچ څخه وروسته حالت کې وي مهمه ونډه لوبوي.

د دې لپاره چې خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي، باید خبریالان د ځانګړو حقونو لرونکي وي. لکه څنګه چې خبریالان یولړ مسولیتونه هم لري. د معلوماتو د راغونډولو حق، په داسې چاپیریال کې چې پکې ګواښ او فشار موجود نه وي، په ملکفیت سره د هدفمندو معلوماتو ورکول، رایه ورکونکو ته د پوهاوي او کارنده معلوماتو ورکړه، په یو وخت کې خبریالانو ته هم مطرح کیږي. په واقعیت کې خبریالي پیچلې دنده ده، خبریالان له داسې ستونزو سره مخامخ کیږي چې باید پر هغې بري ترلاسه کړي او له کړکیچونو باید واوړي. هغه خبریالان چې د بې پرې معلوماتو راغونډونکو په توګه د خپل ماموریت له اصلي لارې، منحرف شوي او یو لوري ته غوره کړي، د تاوتریخوالیو د رامنځته کیدو لامل شوي دي.

دا لارښود کتاب، له خبریالانو سره د مرستې لپاره جوړ شوي تر څو په بیلابیلو سیاسي پړاونو کې، د مسلکي حساسیتونو په پام کې نیولو سره، له خپلو ټولو مسلکي وړتیاو او حقوقي امتیازاتو څخه په اغیزمنه توګه ګټه واخلي. د دغه کتاب مخاطب، په دموکراتیکو نظامونو کې د ټولو رسنیو خبریالان دي چې په نوې سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي فضا کې فعالیت کوي. لکه څنګه چې د دغه کتاب مخاطب خبریالان دي هغو په بیلابیلو لارو له رسنیو( د راډیو، ټلویزیون، برقي او چاپي رسنیو په ګډون)، په ټولو برخو ( سیمه ایزو، ملي او نړیوالو) برخو کې او همدارازپه دولتي او خصوصي رسنیو کې همکاري کوي.

دا کتاب د وسایلو د یو بکس په څیر دي چې د ټاکنو پرمهال پوښتنو ته عملي تګلارې او ځوابونه مطرح کوي او د ټاکنو پرمهال بې وړاندې کوي او د ریښتینې ژوندانه د قضایاو پر بنسټ بیلګې هم کاروي.

خبریالان، خپل کاري اصول پخپله تعیینوي:
«مور ته ډوډۍ راکړې، کنه نو، هیڅ ریپوټ به جوړ نشي.»




PAHÉ© / CARTOONING FOR PEACE

# ۱

# د خبریالانو لپاره دستورالعمل

د ټاکنو د بهیر په لړ کې یو خبریال له بیلابیلو فشارونو سره مخامخ کیږي. کیدای شي دا فشارونه د حکومت لخوا اوسي په ځانګړې توګه په هغو هیوادونو کې چې د ماتیدونکې دموکراسۍ لرونکي وي. کیدای شي دا فشارونه د سیاسي ګوندونو لخوا وي چې د خپلو پروګرامونو د لاژیاتو خپریدو غوښتونکي وي او یا هم د خبریالانو د یوه آمر او یا د رسنۍ د مالک لخوا چې د یوه کاندید د پروګرامونو د زیات خپریدو غوښتونکي وي.

خبریالان باید د نورو وګړو په څیر د راپې ورکولو پرمهال د فشار له راوړو او د سیاسي نظرونو له ورکړې ډډه وکړي. له خبریالانو د خلکو هیله داده چې ویره ونلري. هغوی باید له کاندیدانو سره له همدردۍ او مالفت پرته، بې پرې چلند ولري.

خبریالان باید د فشارونو په وړاندې د مقاومت او د ټاکنو پرمهال د دندې ترسره کولو په لړ کې، له خپلو مسلکي او اخلاقي اصولو څخه کار واخلي. د دغو اخلاقي اصولو او اساساتو په اړه هیڅ نړیواله اعلامیه شتون نلري. خو په هیوادونو کې اخلاقي مقررات یوشان دي.

ټول دا اخلاقي اصول، "خبریالی" د حقایقو او آرمانونو پیدا کولو لپاره دوامداره هڅه تعریف کوي. له همدې امله ده چې د خبریالانو مسلکي فعالیتونه باید کره، انډولیز، بې پرې او انساني شان ته د احترام پربنسټ وي. پر دغو مواردو سربیره خبریال باید داخلاقي احساس لرونکې وي، د مسولیت منلو احساس ولري او د بیلابیلو نظرونو ترمنځ په ځانګړې توګه هغه نظرونه چې نه بې خپروي د توپیر وړتیا ولري. له دې سره سره له سیاسي- ټولنیز وضعیت پرته یو خبریال د ټولنې وګړو په وړاندې مسول دي.

ټاکل شوې نده چې رسنې د قدرت د څلورم رکن په توګه په ټولنه کې د حکومت، واحد ګوند او یا افرادو په ګټه فعالیت وکړي. یو خبریال باید یواځې د وګړو یعنې هغو کسانو په وړاندې چې له هغوی سره اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې مرسته کوي، ځواب ویلو مسول وي. او وګړي په خپل وار سره د خبریالانو په مرسته د بیان آزادۍ ته لاسرسي پیدا کوي.

## ۱.۱ د وینا او عقیدې آزادي

خبریالان د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې په نولسمې ماده (۱۹۴۸) او د مدني او سیاسي حقونو د کنوانسیون نولسمه ماده (۱۹۶۶)، کې تصریح شوي او دا حقوق د ۱۵۴ هیوادونو

لخوا تصویب شوي چې خبریالان ځینې برخمن دي. همداراز دا حقوق په سیمه ایزو کنوانسیونونو کې په افریقا، اروپا او امریکا کې تضمین شوي دي. دا نړیوال اسناد د حکومت له لاسوهنې پرته داطلاعاتو ترلاسه کولو او خپرولو حقوق په رسمیت پیژني. هیڅ کله او په هیڅ صورت کې باید حکومتي چارواکي د خبریالانو لخوا د اطلاعاتو په راغونډولو کې ونه ځورونې او د هغوی په وړاندې خنډ رامنځته نکړي. حکومتونه باید د خبریالانو پر فعالیت سانسور وضع نکړي او همداراز د شته سرچینو څخه پر خبریالانو فشار رانه وړي.

## حقوق او مسوولیتونه

د ټاکنو پرمهال خبریالان حق لري چې له ټولو اړخونو او کاندیدانو سره خبرې وکړي. دا حق د هغو ګوندونو او سیاستوالو د حال شامل هم دي چې د حکومت په وړاندې ولاړ دي، او خبریالان فکر کوي چې د هغوی په پام کې نیولو سره د هیواد د وګړو راتلونکي لپاره مهم دي. د مدني سیاسي حقونو کنوانسیون د هر فرد لپاره د بیان د آزادې حق په رسمیت پیژني. همداراز باید د ټاکنو پرمهال ټولو ګوندونو، کاندیدانو او وګړو ته د بیان آزادۍ حق تضمین شي. دا حق کولي شي لاندې ټکي ترلاسه کړي:

- رسنیو ته د لاسرسي حق، د پروګرامونو او عقیدې د خپرولو حق؛
- دهغو هڅو افشا کول چې د وینا د آزادۍ د محدودولو لپاره پیل شوي وي؛

وروستي مورد د هغو حکومتونو پورې اړه لري چې د کاندیدانو د ټاکنیزو مبارزو مخنیوي کوي او یا هغه ګوندونه چې د وګړولخوا د ټاکنیزو درغلیو د افشا کیدو په اړه د معلوماتو مخنیوي کوي.

## د رسنیو د محدودیتونو قانوني والي او مشروعیت

د سیاسي او مدني حقونو کنوانسیون (۱۹۶۶) د بیان آزادۍ لپاره د لړو محدودیتونو مشروعیت په رسمیت پیژندلي دي. په واقعیت کې دا محدودیت د نورو د حقونو او شخصیت د ملاتړ، د ملي امنیت ساتنې، عامه نظم، سلامتې او عمومي اخلاقو د ملاتړ په موخه مطرح کړي دي.

که څه هم چې دا محدودیتونه، په هغو هیوادونو کې چې ټاکل شوې وي ټاکنې ترسره شي،

باید په جدي توګه د قانون په چوکاټ کې تنظیم شي او د هغې پولې وټاکل شي. که دا محدودیتونه په نامشخصه توګه مطرح شي، حکومتونو یا هغو کاندیدانو ته چې واکمن دي فرصت ورکوي تر څو د هغو خبریالانو فعالیتونه چې د ځان په ګټه نه بولي محدود کړي.

قانوني محدودیتونه هم کیدای شي غیر مشروع اوسي. لکه په هغو هیوادونو کې چې دموکراسۍ ته د ورتګ په حال کې دي، کیدای شي د تیرو رژیمونو پاتې شوي قوانین د اجرا وړ وي. که چیرې خبریالان له محدودیت سره مخامخ کیږي باید وګوري چې دا محدودیتونه له نړیوالو قواعدو سره سمون لري که نه.

- د مشروع محدودیت بیلګه: د هغو خبرو سانسور چې له قومي کرکې ډکې وي.
- د نامشروع محدودیت بیلګه: د هغو مسایلو په اړه د اطلاعاتو خپرولو او مباحثې مخنیوي چې د واکمنو کاندیدانو ترمنځ د بیا ټاکل کیدو پر سره ستونزې راپیدا کوي. چې دا کار د هیواد د ملي امنیت د ساتنې په پلمه عمومي اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسي محدودوي.



### د اطلاعاتي سرچینو ساتنه

په داسې حال کې چې د اطلاعاتو سرچینه د خپل هویت دپټ ساتلو غوښتونکي وي، خبریال دا حق لري چې خلکو او دولت ته د هغه د نوم له افشا کولو ډډه وکړي. که څه هم چې خبریالان د ناسمو ریپوټونو خپرولو له امله له بند پاتې کیدونکي کړکیچ څخه خبر وي او له هغې ډډه وکړي. خبریال باید د ترلاسه شویو اطلاعاتو سموالي له خپریدو مخکې ځانته ثابت کړي. په داسې حال کې چې خبریال د اطلاعاتو د سموالي په اړه د ځیرنې په حال کې دي دا امکان شته چې د اطلاعاتو د ترلاسه شوي کس هویت د خپل شخصي امنیت په موخه خپل لوړ پوړي آمر ته افشا کړي.

### د خبریالانو امنیت

خبریالان باید وتوانیږي چې د بشپړ امنیت په فضا کې له ګواښونو لیرې فعالیت وکړي. خبریالان باید هر ډول ګواښونه چې هغوې او یا د هغو همکارانو ته متوجه وي، په جزیاتو سره

په خپل وخت د رسنیو ملاتړو، د بشري حقونو ادارو او د دولت امنیتي ارګانونو ته ریپوټ ورکړي.
د هیوادونو په ماتیدونکي سیاسي فضا کې د ټاکنو پرمهال خبریالان، باید په یوائې توګه فعالیت ونکړي. د خبریالانو ملي او نړیوالې اتحادیې کولي شي له خبریالانو سره مرسته وکړي او کله چې ستونزه رامنځته کیږي پوه شي.

## د رسنیو د نامشروع محدودیتونو بیلګه

کله چې یو پوځي جنرال له کودتا وروسته واک ترلاسه کوي، د نړیوالو فشارونو لاندې اړ کیږي چې د ولسواکۍ راوړلو لپاره هڅه وکړي. هغه پریکړه کوي چې ولسمشریزې ټاکنې ترسره کړي او په خپله د یوه کاندید په توګه مطرح کیږي. همداراز د رایو شمیرنې داسې کمیسیون، چې په کې پوځیان حضور ولري، جوړوي.
رسنې او خبري آژانسونه د حاکم نظام د مخالفو کسانو لاریون خپروي خوپه ځواب کې پوځیان یوه اعلامیه خپروي او د ملي امنیت د ساتلو په پلمه رسنۍ د وسله والو ډلو د فعالیتونو په اړه د ریپوټونو له خپرولو منع کوي. خبریالان له دغې اعلامیې سره موافقه نکوي ځکه د هغوی په باور دا کار له نړیوالو قواعدو سره په ټکر کې دي چې په پایله کې خبریالان ملي امنیت ته د ګواښ په تور بندیان کیږي. د دغه اقدام ترسره کونکي هیواد له پوځیانو سره سیمه ایزه ټولنه خپلې ټولې اړیکې بندوي او د هغه هیواد مشران د نړیوالو بندیزونو پرلګولو ګواښي.



### د رسنیو ګډه څارنه

کیداي شي په یوه هیواد کې د رسنیو څارونکي سیستم د مخابراتو یا د عدلې وزارت وي، دولتي او غیر دولتي څارونکې ادارې د مسلکي خبریالانو لخوا رهبري کیږي او داوړه له یوبل سره همکاري کوي.

په عادي حالاتو او يا هم په ټاکنو او سياسي کړکيچ کې کيداي شي د دولتي او غير دولتي ادارو ترمنځ ګډه څارنه رامنځته شي. کيداي دا مرسته، له خصوصي رسنيو د ملاتړ په ډول له دولتي ادارو او يا د يوشمير غير مسلکي رسنيو او خبريالانو په وړاندې منسجم شي.

### د ټاکنيزو مبارزو د ګډ پوښښ يوه بېلګه

د ټاکنيزو مبارزو پرمهال د بې پرې والي او مسلکي والي ټينګښت په موخه، هره څارونکې اداره همداراز رسنيزې څارونکي بنسټونه پر دغو مبارزو د څارنې او همکارۍ تګلارې جوړوي.

- دولتي څارونکې اداري داسې يو سيستم رامنځته کوي ترڅو وشي کولای د ټولو راډيو ګانو او ټلويزيونونو خپرونې ثبت کړي او د چاپي رسنيو يوه کاپي هم ترلاسه کړي. يوه حقوقي اداره مسوليت لري ترڅو ټول شکايتونه ترلاسه کړي، د تصديق په صورت کې د دولتي څارونکو بنسټونو پر غړو محدوديتونه وړانديز کړي. دولتي څارونکې ادارې د ټاکنيزو مبارزو د خپريدو د وخت کچه تنظيم او څاري او د امکان په صورت کې له خبريالانو سره د ټاکنيزو مبارزو د پوښښ په اړه روزنيز پروګرامونه جوړوي.
- غير دولتي څارونکې بنسټونه لکه د رسنيو پر اخلاقو د څار ډله کيداي شي خپل استازي هغو ادارو ته واستوي چې د دولت لخوا جوړې شوي دي ترڅو د ټاکنو پرمهال د دغو نويو ادارو پر کړنو څارنه وکړي.

نړيوالو بنسټونه له دولتي او غير دولتي ادارو د نړيوالو همکاريو په چوکاټ کې ملاتړ کوي ترڅو وشي کولای په خپلو هيوادونو کې آزاد، با اعتباره او دموکراتيکې ټاکنې ترسره کړي.



### ۱.۴ رايه ورکونکو ته د پوهاوي ورکولو ملکفيت

د مدني او سياسي کنوانسيون ۱۹ ماده (۱۹۶۶) اطلاعاتو ته د لاسرسي حق ټولو وګړو ته تضمين کوي. دا د دولت ملکفيت دي چې د ټاکنيزومبارزو پرمهال ځان ډاډه کړي چې رايه ورکونکې په خپل وخت د ټاکنيزو مبارزو او د رايې ورکولو لاروچارو په اړه بشپړ پوهاوي

ترلاسه کړي دي.

دولت دنده لري چې په پراخه کچه د ټاکنیزو مبارزو او رایې ورکولو په اړه د بلبوردونو، معلوماتي پاڼو، په رسنیو کې د ویناو او د ګوندونو او کاندیدانو لپاره په راډیو او ټلویزیونونو کې د وخت په ځانګړي کولو سره خلکو ته پوهاوي ورکړي. په عین حال کې د ټولو دولتي او غیر دولتي رسنیو کارکونکي اخلاقي او مسلکي مسولیت لري چې خلکو ته په دې اړه معلومات ورکړي.

په طبیعي توګه د پوهاوي مسولیت پر سیاسي چاپیریال اغیزه کوي. وګړي د رسنیو اطلاعاتو ته اړتیا لريترڅو له هغو څخه په ګټې اخیستو کاندیدان د خپلو ګوندونو موضوعات تربحث لاندې ونیسي او په ښه توګه یې خلکو ته معرفي کړي. نو له دې امله خبریالان هم د ټاکنو پرمهال مسوولیت لري چې د خلکو پوهاوي په خاطر هغوی ته معلومات وړاندې کړي.

## رایه ورکونکو ته د پوهاوي له بهیر سره مرسته کول

خبریالان باید وګړو ته د رایه ورکولو د پروسیجر په اړه د لاندې ټکو په تړاو معلومات ورکړي:



- څوک کاندید دي او څوک کولي شي رایه ورکړي؟
- وګړي باید څه وخت، چیرته او څه ډول د رایې ورکولو لپاره نوم لیکنه وکړي؟
- وګړي باید څه خت، چیرته او څه ډول رایه ورکړي؟
- دا ټاکنې څه ډول ټاکنې دي(پارلماني، ولسمشریزې که د ښاروالۍ)؟
- کاندیدان د کومې چوکۍ ترلاسه کولو لپاره هڅه کوي او د بریا په وخت کې څه صلاحیتونه او مسوولیتونه ترلاسه کوي؟

دا اطلاعات په ټولو هیوادونو کې مهم دي، خو په هغو هیوادونو کې زیات مهم دي چې نوي دموکراتیک نظامونه تجربه کوي او یا هم د هغه هیواد ډیري برخه بې سواده وي. هغه معلومات چې د خبریالانو لخوا وړاندې کیږي د سیاسي پوهاوي د زیاتیدو او په ټاکنو کې د زیاتو وګړو د ګډون لامل کیږي. د بیلګې په توګه د رایه ورکولو د بهیر د سیستم په اړه د جزیاتو ورکول او دا چې رایه ورکول به سري وي، دا کار له رایه ورکونکو څخه هغه ذهني کنګوسي لیرې کوي چې کواکې دوې به له غچ اخیستو او یا فشار سره مخامخ شي.

کیدای شي دا اطلاعات په لیکلې بڼه د هغو مدني او دولتي ادارو لخوا چې د پوهاوي ورکولو په برخه کې تخصص ولري، وړاندې شي. د ټاکنو د بیلابیلو اړخونو په اړه د مشرحو ریپوټونو جوړول هم کولي شي د خلکو پام ځانته راجلب کړي.
د دغو ریپوټونو او مطالبو د خپرولو لپاره باید خبریالان په لازمه توګه چمتووالي ولري.

## د مطالبو د اغیزو خپرول

خبرونه باید مخاطب ته د فهم وړ وي. خبریال باید په پام کې ولري چې د ټاکنو بهیر زیات مسایل او ستونزه رامنځته کول شي. ریپوټونه او مقالې باید زیاتو کسانو ته ورسیږي. یو خبریال د پوهنتون استاد ندي. بلکې هغه داسې کس دي چې کولي شي په ساده ژبه پیچلې ستونزې تشریح کړي.
د مطالبو د خپرولو اصول په لاندې ډول دي:

- یو ښه خبریال له لږو کلماتو څخه په کار اخیستو زیات اطلاعات بیانولي شي، په داسې حال کې چې نوي خبریال کم اطلاعات د زیاتو کملو په کارولو وړاندې کوي.
- د هرې موضوع د بیان لپاره یوه لنډه جمله کارول کیږي.
- د مشرح ریپوټ له لیکلو مخکې باید موضوعات بیرون نویس کړي. د موضوعاتو بیرون لیکل یوه خبریال ته دا فرصت ورکوي چې یوه پیښه په دقیقه توګه تعریف کړي او د هغې د توضیح لپاره اغیزمنه لاره بیان کړي. همداراز د موضوعاتو بیرون لیکل یو خبریال ته دا فرصت ورکوي چې د پیښې مهم ټکي وپیژني او هغه په دوامداره توګه لکه څنګه چې لازم وي په ریپوټ کې ذکر کړي.

### څه وخت د رایه ورکونکي نا – پوهي له ټاکنو وروسته د تاوتریخوالیو لامل کیږي

په داسې هیواد کې چې د بې سوادۍ کچه لوړه وي په هغې کې پارلماني ټاکې په ډیر پیچلي پروسیجر ترسره کیږي. رایه ورکونکي باید د رایه ورکولو دوه پاڼې توري او سپینې په دوه بیلابیلو صندوقونو کې واچوي. سپینه پاڼه د هغه ګوند لپاره چې نوموړي غړي یې ټاکلي

کارول کیږي. او توره پاڼه د هغه ګوند لپاره کارول کیږي چې غړي یې رد کړي وي.
حکومت، د مدني ټولنو ډلو او رسنیو د پوهاوي ورکولو لپاره لږ وخت ځانګړي کړي دي. په دې ورځو کې، د ټاکنو د پروسیجر په اړه د رایه ورکونکو د ناپوهې لهامله، زیاتې تخلفات پېژندل شوي او ثبت شوي دي.
حاکم ګوند ګټونکي اعلانیږي. اپوزیسیون پایلې نه مني. داستونزه هیواد د یوه سیاسي کړکیچ په لور بیایي او دا پیښې په هیواد کې له ټاکنو وروسته د تاوتریخوالیو لامل کیږي.

## ۱.۳ دقت او بیا کتنه

دخبریالۍ له بنسټیزو اصولو څخه یو دا دي چې په خبر یا ریپوټ کې ټول اطلاعات باید په بشپړه توګه دقیق وي. دا اصل په ټولو شرایطو په ځانګړې توګه د ټاکنو پرمهال مسلکي والي او انضباط ته اړتیا لري. خبریالان باید تل د حقیقت په لټه کې وي او هڅه وکړي چې د یوه ریپوټ ټول معلومات بیا ځلي په دقت سره وګوري ترڅو د هغې صحت او ثقم معلوم کړي. د دې لپاره چې د پام وړ اطلاعات د اعتبار وړ وګرځي باید په لاندې شرایطو برابر وي:



- ترلاسه شوي اطلاعات باید حقیقي وي، نه روغ. ځکه په ټاکنو کې له ناسمو معلوماتو ګټه اخیستل یو عادي چاره ده. کله هم ترلاسه شوي اطلاعات په لومړي سر کې په بشپړه توګه حقیقي مه بولئ. د اطلاعاتو د صحت په اړه باید نورې سرچینې هم تاید وکړي.
- که شک موجود وي نو ښه لاره داده چې د اطلاعاتو له خپریدو مخنیوی وشي. هڅه مکوئ تر څو د ستونزو د رفع کولو په موخه شک، پر متن غالب شي.
- د خبر یا ریپوټ هره بره باید دقیقه وي؛ پیښه، د پیښې نیټه، د پیښې ځای نقل قول او داسې نور. د مطلب پر یوې کوچنۍ برخې شک لرل کولی شي ټول مطلب مشکوک کړي.
- په داسې حالت کې چې یو خبریال پوهاوي ترلاسه کوي چې ناسم معلومات یې کارولي دي، باید هڅه وکړي چې د تیروتنې په اړه په تکراري توګه لیکنې خپرې کړي.

### له پیژندل شوې سرچینې څخه اطلاعات ترلاسه کول

د امکان تر حده د خبر یا اطلاعاتو سرچینې معرفي کړئ. دا هغې پوښتنې ته د ځواب ورکولو

په توګه دي چې وايي ( څوک دا شان څرګندونه کوي؟). دخبر د چینې د معرفۍ پرمهال باید د ( کاندید ، د ګوند مشر ، د ګوند د غړي او یا د عادي وګړي) نوم او موقف څرګند شي.

- هغه مطلب چې د ټاکنیزو مسایلو په اړه خپریږي، که چیرې په هغې کې هیڅ سرچینه نوي ذکر شوي، هغه مطلب مشکوک او بې اعتباره معلومیږي. له دغې بڼې باید په ټولو قضیو کې کار واخیستل شي.
- د خبر له منبع څخه باید وپوښتۍ چې ولې نغواړي خپل هویت ذکر کړي، په ځانګړې توګه په هغه وخت کې چې نوموړي تاسو ته داسې معلومات درکوي چې هغه د یوه کاندید ، یو فرد یا د یوه ګوند شهرت ته د زیان رسیدو لامل کیږي. د منبع لخوا د خپل هویت د پټ ساتلو په اړه د هغه دلیلونه په دقت سره وه ارزوئ. که ستاسو په نظر د نوموړي دلیلونه مشروع وو ( د مثال په توګه، نوموړي ته د زیان رسیدو له ویرې)، ترلاسه شوي معلومات وکاروئ. خو له هغه مخکې باید د نورو خپلواکو سرچینو تصدیق هم ترلاسه کړئ. پټه او نا معلومه سرچینه باید د شایعاتو د خپریدو د وسیلې په توګه و نګارول شي.



## اطلاعات باید کره او د اصلي موضوع په اړه وي

- دقیق اوسئ. د یوه لاریون د خبري پوښښ په صورت کې، ځای، د پلانوني بڼه، په وینا و کې مطرح شوي موضوعات او د لاریون کونکو غبرګون توضیح کړئ.
- هر خبر یا ریپوټ کې باید لاندې پوښتنو ته ځواب ورکول شي: څوک؟ څه؟ څه وخت؟ چیرته او چا؟
- د صراحت نشتوالي کیدای شي د حقیقت د تحریف لامل شي. د مثال په ډول که چیرې خبریال ولیکي چې "فلان کاندید په ډیر وهڅول شو" باید ووایي چې راغونډ شوي کسان د کومې ډلې پلویان وو. آیا هغوی د نوموړي کاندید ملاتړي وو که عادي خلک چې د کاندید په اړه یې نوي معلومات ترلاسه کړي وو. په لومړۍ قضیه کې هڅول د وړاند وینې قضیه وه. په دوهمه قضیه کې دا ښکارنده څرګندوي چې نوموړي کاندید هغه رایه ورکونکي چې تر اوسه یې ټاکلي کاندید ته د رایه ورکولو هوډ نه درلود ، ملاتړ هم ترلاسه کړي دي.

- کېداي شي تل تېروتنې وشي. له همدې امله خبريالان بايد، د خبري پوښښ پرمهال بايد تل خپلو خېړنو ته پاملرنه وکړي او له هر ډول مطلق قضاوت څخه ډډه وکړي. په خبري قضيو کې د انضباط او اعتدال په پام کې نيول له تېروتنو څخه د مخنيوي تر ټولو ښه لاره ده.
- ټول ثبت شوي تصويرونه او غږونه راتلونکو رېپوټونو ته وساتئ.

## يوه شايعه کېداي شي د ټاکنو د بهير د ګډوډېدو لامل شي

په هېواد کې د ټاکنو پرمهال، د اړيکو يو غورځنګ د رايه ورکولو د تحريم غوښتنه کوي. خبريالان يوه ورځ وړاندې له ناڅرګندې سرچينې څخه دا معلومات ترلاسه کوي چې په لېرې پرتې سيمه کې د رايې ورکولو پر يوه مرکز يو بم غورځول شوي دي. خبريال دا خبر له بيا کتنې پرته او د منبع له يادولو پرته خپروي.

يوه ورځ وروسته ټولې رسنۍ دا خبر خپروي، خو سيمه ايزه راډيو دا خبر نه خپروي او اعلان کوي چې دا شان پېښه نده رامنځته شوې. په دې صورت کې ناسم خبر پخوا خپل کار کړی دي.

په ټول هېواد کې د رايه ورکونکو ترمنځ وېره او ډار رامنځته شوي دي او ډېر رايه ورکونکي د ورته پېښو له ډاره له خپلو کورونو بهر نکېږي.



### ۱.۴ انډول، بې پرېوالي او امانت ساتنه

خبريالان بايد د ګوندونو د پروګرامونو او د کانديدانو مناظرو په اړه رېپوټونه خپاره کړي، ترڅو خلک وتوانېږي چې د هغوی په وړاندې معلومات ترلاسه کړي. مسلکي رېپورتر هيڅ کله يو لوري نه ټاکي او همداراز خلک د يوه مشخص کانديد غوره کولو ته نه رابولي. خبريالان دا چاره سرمقاله ليکونکو او څېړونکو ته پرېږدي.

### د نظر او واقعيت ترمنځ تميز

د مسايلو په اړه د ځانګړي ذهنيت طرحه کول د سرمقاله ليکونکي او څېړونکي له دندو څخه دي، لکه څنګه چې څېړونکي يا ليکوال د فردي سياسي ليدلوري له مخې حقايق بيانوي او هڅه کوي چې د خپل ځان او بنسټ سياسي اړخ په ليکنه کې څرګند کړي. د

سرمقاله لیکونکي او څیړونکي دنده یواځې د واقعیتونو انعکاس ورکول ندي که څه هم چې دقت او خپل مسولیت هم په پام کې ونیسي ـ خو د پیښو په اړ له ځانګړي سیاسي اړخه تفسیر وړاندې کړي.
په داسې حال کې چې خبریالان باید د حقیقتونو په لټه او هغې خپرولو ته ژمن وي کیداي شي یو خبریال ډیرې پوښتنې او نظرونه مطرح کړي او اضافه معلومات هم پر هغې ورزیات کړي خو تل باید هڅه وکړي چې په خبر کې بې طرفي او انډول وساتي. د خبر رسونې اساسي چوکلیز دادي چې له ټولو ګوندونو او کاندیدانو سره باید دوستانه او مناسب چلند وشي.

## بې پرېوالي او متعادل چلند

خبریالان باید ټولو ګوندونو، او کاندیدانو ته په بې پلوه توګه پاملرنه وکړي. د مثال په توګه که چیرې د واټ جوړونې مساله دټاکنیزو مبارزو مهمه موضوع وي، خبریال باید د ټولو ګوندونو او کاندیدانو نظرونه دهغې په اړه مطرح کړي. د بې پلوۍ یوه لاره داده چې ټولو ګوندونو او کاندیدانو ته په مساویانه توګه د نظرونو د خپریدو فرصت وکول شي.
مثال ۱: که ټاکل شوي وي چې یو خبریال د یوه ګوند له غونډې څخه چې په هغې کې د یاد ګوند نظرونه مطرح کیږي، ریپوټ جوړ کړي باید حتماً هڅه وکړي د یاد ګوند د نظرونو په اړه د نورو ګوندونو نظرونه هم په ریپوټ کې ولري.
مثال ۲: که یو کاندید د بل کاندید په وړاندې تورونه مطرح کړي اوله خبریال څخه غواړي چې په ریپوټ کې هغه مطرح کړي، باید هڅه وکړي چې د تورنو کاندیدانو نظرونه هم په ریپوټ کې ذکر کړي. که تورن کاندیدان د نظر له ورکړې ډډه وکړي، باید دا موضوع په ریپوټ کې یاده شي.

## جامعوالي او بې پرېوالي

خبریالان باید په ریپوټ کې نه په مستقیم او نه هم په غیر مستقیمه توګه خپل نظر مطرح کړي.

- ډیره مهمه ده چې ریپوټ په صادقانه توګه جوړ شي. د کاندیدانو او ګوندونو نقل قول باید له لاسوهنې پرته خپور شي. که چیرې خبریال د نقل قول مفهوم په سمه توګه درک نکړ، باید بیا ځلې له سرچینې سره په اړیکه کې شي او په دې اړه د زیات وضاحت غوښتنه وکړي.

- که چیرې اړتیا وي (که کاندیدان په سیمه ایزه ژبه خبرې وکړي) باید زیات دقت وشي چې د خبرو له تحریف او تغیر څخه مخنیوی وشي.
- هیڅ ریپوټ باید د یوه ګوند او یا کاندید په ملاتړ خپور نشي.
- . د ریپوټ بڼه باید بې پلوه وي. ریپوټ باید د ټولو خواوو بدلونونو پرته له دې چې د هغوی په اړه قضاوت وشي اشاره وکړي.
- ریپوټ باید د یوه شخصي نظر وړاندیې کولو لپاره ونکارول شي. په ریپوټ کې د شخصي نظر له شریکولو ډډه کول یو مسلکي مکلفیت دي. نه یوازې دا چې د خبریالانو نظرونه په ریپوټ کې مطرح شي، بلکې آن هغې ته اشاره هم ونشي.
- د خبریالانو لخوا باید داسې جامې، لوحې، تبلیغاتي پاڼې او یا نور توکي چې د کاندیدانو او ګوندونو شعارونه او نښانونه پکې موجود وي ولیږدول شي.
- د ګوندونو او کاندیدانو له غونډو څخه دریپوټ جوړولو پرمهال د کاندیدانو له هر ډول نظر او مصاحبې څخه ډډه وکړئ. خپل سیاسي نظرونه یوازې په شخصي محفلونو او د کورنۍ له غړو سره مطرح کړئ.



### صداقت او بې پریوالي

خبریالان د ټولنې وګړي دي چې د هغو تیر اوسني حالت د ټولنې له روزنیزو، فرهنګي او دودونو څخه اغیزمن دي. له دې سره سره دوی ملکف دي چې دریپوټ جوړولو پرمهال په ټولو برخو کې بې پریوالي وساتي. که څه هم چې ښایي په بشپړه توګه بې پریوالي ممکن نوي، خو خبریالان باید هڅه وکړي چې ترڅو په دې برخه کې سختګیر او صادق اوسي.

- د خبر د راغونډولو پرمهال، خبریالان باید هڅه وکړي چې تر ممکن حده پورې بې طرفه اوسي او کله هم د ګوندونو او کاندیدانو ترمنځ یو لور غوره نکړي.
- د لیکنې بڼه او ډول او همداراز په تصویرونو کې باید د خبریال لخوا له یوه کاندید څخه د ملاتړ څرګندونه ونکړي.
- نقل قول، د کمرې زاویه، د ریپوټونو د خپرولو د توکو او موضوعاتو ځای پر ځای کول باید په بې پرې او یا حد اقل په صداقت سره انتخاب شي.

- خبریالان باید د خپلې شخصي عقیدې په خلاف په ټولو برخو کې صداقت ته ارزښت ورکړي.

## د بې پامۍ زیان

د یوې راډیو یو خبریال د حاکم ګوند د یوې غونډې د ریپوټ جوړولو په موخه سیمې ته استول کیږي. د ننوتو په دروازه کې د ګوند غړي داسې خولۍ چې د هغه ګوند نښان پرې نصب شوي وي ویشي. خبریال هم له لمر څخه د ځان ساتنې په موخه یوه دا خولۍ اخلي او په سر یې ږدي. په هغه شپه نوموړي د غونډې په اړه متوازن ریپوټ جوړ او خپروي. خو راتلونکې ورځ د اپوزیسیون پورې اړوند یوه ورځپاڼه د نوموړي خبریال تصویر په داسې حال کې خپروي چې د حاکم ګوند نښان لرونکې خولۍ یې په سر ده خپروي او نوموړي حاکم ګوند څخه په پلوي تورنوي.



### ۱.۵ خپلواکي او صداقت

وګړي له رسنیو څخه هیله لري تر څو واقعیتونه په سمه توګه او په صداقت خپاره کړي. د وګړو دغې هیلې ته په پام سره، خبریالان باید نه یوازې بې پرې وي بلکې د سیاسي، ټولنیزو او مالي فشارونو په وړاندې هم مقاومت وکړي. خبریالان باید یوازې د خپلو رسنیو د آمرینو امر ومني. آزاد خبریالان باید هغه اخلاقي قواعد چې پر هغو باور لري عملي کړي.

### خپلواکي

امکان لري د ټاکنو پرمهال د خبرایالانو خپلواکي په بیلابیلو بڼو له ګواښ سره مخامخ شي:

مثال ۱: د رسنۍ مالک له یو کاندید سره نیږدې اړیکې لري او له خبریال څخه غواړي چې د ټاکلي کاندید فعالیتونه لکه څنګه چې کاندید غواړي خپاره کړي.

مثال ۲: حکومت له هغو خبریالانو چې په دولتي رسنیو کې فعالیت کوي غواړي تر څو هغه ګوند ته چې حاکم دي د تبلیغ مناسبه زمینه برابره کړي.

مثال ۳: هغه خبریالان چې په شخصي رسنیو کې فعالیت کوي، وروسته له هغه چې انتقادي

ریپوټ خپور کړي د دولتي چارواکو لخوا تر فشار لاندې نیول کیږي.
خبریالان باید د ټولو دغو فشارونو په وړاندې تر ممکنه حده مقاومت وکړي. د ریپوټ ورکولو پرمهال خپلو اخلاقي مسوولیتونو ته پاملرنه وکړي او هڅه وکړي په بې طرفۍ او صداقت سره فعالیت وکړي. د اړتیا په صورت کولی شي له خبریالانو د ملاتړ له ملي او نړیوالو ادارو مرسته وغواړي. د دغو ادارو یو مسولیت تر فشار لاندې خبریالانو سره مرسته کول دي.

## صداقت

خبریالان باید پوه شي چې څه ډول له کاندیدانو او سیاسي ګوندونو ځان خپلواک وساتي.
خبریالان باید له کاندیدانو او ګوندونو سره اړیکې ولري تر څو د هغوی د شخصیت او سیاسي موخو په اړه معلومات پیدا کړي. خو له حده زیات نیږدې والي کولی شي د خبریالانو خپلواکي له منځه یوسي.
سیاستوالان کولی شي خبریالان غافلګیر کړي امکان لري هغوی ځان د خبریالانو دوست وښیي، خو خبریالان باید متوجه اوسي چې هغوی د خپل کاندید د شخصیت د ښه انځور او پروګرامونو د خپریدو په موخه له تاسو ګټه واخلي.
د خبریالانو او سیاستموالانو ترمنځ اړیکې باید د دوستۍ له ادعا پرته اوسي، له دې امله یو خبریال باید لاندې ټکو ته پاملرنه وکړي:

- پیسې او یا ډالۍ په هرډول چې کیږي قبول یې نکړي، ترڅو په راتلونکي کې ستاسو پر پریکړې اغیزه ونکړي، د ګټو تضاد مه وقع کیږي او بالاخره اعتبار ته یې زیان مه رسوئ.
- د تبلیغ او یا بلې مرستې په موخه هیڅ ډول امتیاز او ډالۍ مه قبلوئ. د بیلګې په توګه د سیاستوالي مرسته کونکي خبریال د ټاکنیزو مبارزو پرمهال پیژندل کیږي، په داسې حال کې چې د امتیاز اخیستو په صورت کې هغه قضیې خپرې نکړي.
- د صادقانه فعالیت اضافي اصول
- خبریال باید اطلاعات له ناسمې لارې ترلاسه نکړي( لکه د یوه کاندید په پټه توګه د خبرو ثبت کول).
- خبریال باید د اطلاعاتو خپرولو په وړاندې له کاندیدانو څخه پیسې وانخلي.

- خبریال باید هغو کسانو ته چې د رسنیزو فعالیتونو په اړه معلومات نلري ووایي چې رسنۍ څه ډول فعالیت کوي او دا چې د هغه خبرې کیدای شي د ریپوټ یوه برخه شي او امکان لري چې خلک هغه واوري او یا ووینې.
- خبریال باید اطلاعات پټ نکړي. له هغو اطلاعاتو چې د نومړي نورو همکارانو را غونډ کړي، باید هغوی خبر کړي.
- خبریال باید په خپل ریپوټ کې د تصویرونو اخیستونکي نوم که هغه په خپله ریپوتر، هم وي باید نوم ذکر شي.

## د کاندیدانو له لوري د تمویل شوي سفر وړاندیز او دې ته ورته نور خدمات

معمولاً سیاسي ګوندونه خبریالانو ته بلنه ورکوي هغو سیمو ته چې د یاد ګوند ټاکنیزې مبارزې پکې ترسره کیږي د ګوند په لګښت سفر وکړي؛ کیدای شي هلته وړیا ډوډۍ هم ترلاسه کړي. دا ډول وړاندیزونه مه منئ البته پرته له هغه مهاله چې ټول خبریالان شامل وي.

په دې برخه کې د حل تر ټولو ښه لاره داده چې خبریال په شخصي لګښت سره او یا هم له نورو خبریالانو سره د سفر د لګښتونو په شریکولو سره لیرو سیمو ته سفر وکړي. پر دې سربیره هغه رسنۍ چې خبریالان لري باید د خپلو خبریالانو د هوټل او خوړو لګښت ورکړي.

د سیاسي ګوندونو لخوا د سفرونو د لګښت ورکړه په لاندې شرایطو کې د منلو وړ دي:
- کله چې د ټاکنو د کمیسیون لخوا جایز وبلل شي.
- کله چې ټول ګوندونه د خبریالانو لګښت ورکړي. په داسې حال کې چې یواځې یو ګوند، د مالي وړتیا په صورت کې دا کار کوي، د خبریالانو لخوا باید د هغه ګوند وړاندیز ونه منل شي. عین وړاندیز باید ټولو رسنیو ته وشي. باید په دې برخه کې له خپلو نورو همکارانو او هم مسلکانو سره مشوره وکړي. په داسې حال کې چې ټولو خبریالانو د یاد ګوند وړاندیز منلي وي تاسو یې هم وه منئ له هغې پرته یې تاسو هم رد کړئ.
- په داسې حال کې چې ګوند یا کاندید د خدماتو په وړاندې هیڅ بل څه له تاسو نغواړي، د د خبریال پورې اړه لري چې د یادې ټاکنیزې غونډې په اړه ریپوټ جوړ کړي که نه او یا

په کومه قضیه او بڼه بې جوړ کړي په خپل صلاحیت بې وټاکي.
د ټولو رسنیو خبریالان باید له هیڅ ډول قید او شرط پرته د کاندیدانو او ګوندونو لخوا د هر ډول پیسو او نورو امتیازاتو وړاندیزونه رد کړي.
د سفرونو د لګښت د ترلاسه کولو یوه لاره داده چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هغو رسنیو خبریالاتو د سفر لګښت په غاړه واخلي چې د پیسو د ورکړې توان نلري. د رسنیو تر څنګ څارونکې ادارې هم کولي شي د ټاکنیزو مبارزو پرمهال د خبریالانو د لیږد مسولیت واخلي.

### ۱.۶ ټولنیز مسولیتونه

د رسنیو آزادي او ټولنیز مسولیتونه د یوې سکې دوه مخونه دي. یو خبریال په عین وخت کې وګړي هم دي. د خپلو مسلکي فعالیتونو تر څنګ باید د سیاسي کړکیچونو د اوارۍ لپاره هم عمل وکړي. باید پاملرنه وکړئ چې یو خبریال عادي وګړي ندي، د هغه خبرې کولي شي زیات کسان ځانته راجلب کړي.



یو خبریال باید تل د خپلو فعالیتونو له مثبتو او منفي اغیزو څخه خبر وي. دا په دې معنا ده چې د ریپوټ موضوع ته په پام سره، باید د هغې د لیکنې او لحن بڼه تر ممکنه حده بې پرې او انډولیز اوسي. همداراز دا د چوپ قضاوت او د یوه جنجال راپارونکې موضوع چې یوه ډله او یا فرد د موضوع چورلیز وي، پورې هم اړه لري.
د دغو مسایلو په رڼا کې، باید یو خبریال لاندې ټکو ته پاملرنه وکړي:

- د وګړو، انساني شان او برائت الذمه ته احترام کول. خبریال باید له پوره اطلاعاتو پرته د یو فرد پر شخصیت او اعتبار له شک کولو ډډه وکړي.
- یو خبریال باید د افرادو شخصي ژوند او اطلاعاتو ته احترام وکړي او په هغې کې له لاسوهنې ډډه وکړي، مګر دا چې د یوې ځانګړې پیښې له امله ټولو خلکو ته د هغې مطرح کولو ته اړتیا وي.
- یو خبریال باید د شایعاتو له خپرولو ډډه وکړي، که څه هم چې کیدای شي نور کسان دا کار وکړي.

- خبریال باید په داسې بحثونو کې له ګډون څخه ډډه وکړي چې هغه په ټولنه کې د کرکې، تاوتریخوالي، ویجاړۍ، غلا، د زغم نه شتون، توکم پالنې، ویرې او تبعیض لامل کیږي.
- پورته ټکو ته د نه پاملرنې په صورت کې، کیدای شي خبریال په بیلابیلو جرمونو محکوم شي. لکه په رواندا کې د یوې راډیو د قضیې په شان چې د یادې راډیو لخوا د "ژنوسايد" یا عام وژنې لپاره د تبلیغ له امله، یوشمیر خبریالان د نړیوالې محکمې لخوا د بشریت پر ضد په جرایمو محکوم شول.

ستاسو کارتونونه ډیر په وینو ډک دي.



## د یوه کاندید او یا ګوند د کرکه راپارونکو خبرو او افترا په وړاندې باید څه ډول چلند وشي

د ټاکنیزو مبارزو پر مهال په معموله توګه کاندیدان او سیاسي ګوندونه د مخالفانو په وړاندې تندې او ناسمې کلمې کاروي. د شایعاتو او ناسمو تورونو خپرول بل ډول معمول چلند دی چې مخالفین یې د یو بل په وړاندې کاروي چې معمولاً د مخالفانو د تضعیف لامل کیږي.

خبریال د دغه مطلب له خپرولو پرته بله چاره نه لري، ځکه د هغو ویناو له مخې خلک کولی شي د کاندیدانو شخصیت او وړتیا وپیژني. د کرکې راپارونکو او ناسمو خبرو مسولیت د خبریالانو پر غاړه ندي، بلکې د هغو سیاستوالو په غاړه دي چې دا شان الفاظ کاروي خبریالان یوازې له هغه نقل قول کوي.

ټول خبریالان، له مسلکي پلوه د لاندې مواردو پر پام کې نیولو مکلف دي:

- ریپوټ او نقل قول باید دقیق اوسي او په سمه توګه ګوندونو او کاندیدانو پروې نسبت ورکول شي.
- د ریپوټ د انډول جوړولو په موخه باید د مخالفو ډلو نظرونه هم راغونډ کړي.
- پر هغه څه چې ویل شوي او یا د هغو پر مخالف نشر کله هم قضاوت مه کوئ. خو د خپلواکو شخصیتونو او یا د بشري حقونو د ادارو د چارواکو نظرونه هم په ریپوټ کې شامل کړئ، تر څو د سیاسي کرکه راپارونکو نظرونو زیانونه ټولنې ته بیان کړي.

باید په پام کې ولرئ چې د یوه خبریال د ټولنیز مسولیت حس نوموړي مکلف کوي تر څو په ټولنه کې موجودې سیاسي قضې په پام کې ونیسي. په ماتیدونکي سیاسي وضعیت کې، د کرکه راپارونکو موضوع ګانو په اړه د ریپوټ خپرول چې کیدای شي د افرادو او یا د ټولنې لپاره خطر رامنځته کوي یواځینۍ لاره د ریپوټ نه خپرول دي.

خبریالان کولی شي نورو لارې هم په پام کې ونیسي، د مثال په ډول، د سرمقالې له لارې سیاستوالو او خلو ته د شته ګواښونو او تاوتریخجنو کړنو په اړه خبرداري ورکړي.

رسنیو څخه ګټه اخیستنه: حکومت

د رسنیو څخه ګټه اخیستنه: اپوزسیون

Sign on figure at left: *GOVERNMENT*
Sign on figure at right: *OPPOSITION*



# ۲ ● د ټاکنو د بهیر ځانګړنې

آن هغه هیوادونه چې د تلپاتې دموکراسۍ د دوو لړونکي هم دي له ټاکنیزو درغلیو په امان کې نه پاتې کیږي. د دغې موضوع بیلګې په فرانسه کې د ۱۹۹۷ کال د ښاروالۍ ټاکنې دي. کله چې یوشمیر زیاتو" غیر واقعي رایه ورکونکو" د پاریس په بیلابیلو برخو کې نومونه ثبت کړي وو. همداراز په ۲۰۰۰ میلادي کاله کې د امریکا د ولسمشریزو ټاکنو د رایو شمیرنې په ماشینونو کې چې کومې ستونزې پیدا شوي یادولي شو.

په داسې حال کې چې ګوندونه، وګړي، محاکم، حکومت او د هیواد وسله وال ځواکونه آزادې او عادلانه ټاکنې د سیاسي ژوند اساسي عنصر وبولي، نو په ټاکنو کې به اختلافات او درغلۍ لږ وي.

په هغو هیوادونو کې چې د دموکراسۍ په برخه کې زیاته تجربه لري، رسنۍ په خپلو پروګرامونو کې کاندیدانو، د هغو پروګرامونو، رایه ورکونکو او د ټاکنو د پایلو په اړه تحلیلونو ته پاملرنه کوي. د ټاکنو نورو اړخونه لکه د رایه ورکولو نوم لیکنه او یا د ټاکنو د بهیر د روڼتیا بهیر تر پوښتنې لاندې نیسي. د پاملرنې وړ یوه موضوع، د ټاکنیزو حوزو بیا ویش دي، تر څو په راتلونکو ټاکنو د اکثریت د ګوند له نفوذ څخه مخنیوی وشي.

په نوي رامنځته شوې دموکراسۍ کې، دموکراسۍ ته د لیږد پرمهال هیوادونو، له جګړې وروسته هیوادونه او هغه هیوادونه چې له اوږدې مودې دیکتاتورۍ نظام څخه خلاص شوي وي او د بیا رغونې په حال کې وي، پکې وضعیت په بشپړه توګه بدلون لري. د ټاکنو د پایلو د مشروعیت او اعتبار لپاره ټاکنیزې ادارې رامنځته شوي وي، په ډیرو مواردو کې د سیاسي فشارونو او سیستماتیکو درغلیو په وړاندې ماتیدونکي او زیان منونکي وي. د درغلیو او د رایو د پټولو تورونه معمولاً د ټاکنو د پایلو له خپریدو وروسته مطرح کیږي. دا تورنونه تل له ټاکنو وروسته ستونزې رامنځته کوي.

خبریالان باید په داسې حالت کې ډیره مهمه ونډه ولوبوي. پرته له دې چې د پولیس، محکمې او یا د ټاکنو د څارونکې ادارې ونډه ولوبوي، خبریالان باید د ټاکنو پر ټول بهیر پاملرنه وکړي او هڅه وکړي چې آیا ټاکنې رښې، آزادې او عادلانه ټاکنې امکان لري که نه. د خبریالانو مسلکي مسولیتونه دا اړتیا رامنځته کوي تر څو هغوی د ټولو تیروتنو، اختلافاتو او ناوړه ګټې اخیستو په ځانګړې توګه هغه موارد چې د مسولو او با اعتباره مراجعو له لارې تاید شوي وي په اړه ریپوټ جوړ کړي. د رسنیو له لارې د ټاکنو خپریدل د ټاکنیزو قوانینو په اړه

بشپړ پوهاوي ته اړتیا لري.

### ۲.۱ حقوقي چوکاټ

د زیاتو پر مختللو دموکراسیو بنسټیز قوانین، د ټاکنو نړیوال قواعدو چې د ملګروملتونو سازمان لخوا د بشري حقونو په نړیوالې اعلامیې او د مدني ـ سیاسي حقونو په میثاق کې تعریف شوي دي، شامل کیږي. دا نړیوال تړون روښانه کوي چې هر وګړي حق لري په ټاکنو کې د کاندید او یا رایه ورکونکي په توګه ګډون وکړي. د رایې ورکولو بهیر باید هم له نړیوالو قواعدو سره برابر وي، آزاد او سري وي.

د ټاکنیزو قوانینو د وضع کیدو په لړ کې، په یوشمیر هیوادونو کې امکان لري دا قواعد داسې تفیسر شي چې ګواکې د هغو له اصلي روح سره په ټکر کې دي او د سیاسي مشرانو موخې هم پټې وساتي.

یو خبریال نه قاضي دي او نه هم د پولیسو افسر، بلکې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو اعمالو ریپورټر دي چې د ټاکنو پر مال فعال دي. له دې امله یو خبریال باید لاندې ټکي په پام کې ونیسي:



### د کاندید کیدو او وړتیا او اړتیاوې

آیا  د کاندیدی د وړتیا شرایط معقول معلومیږي؟ د مثال په توګه د کاندیدی حد اقل سن ټاکل یو مشروع امر بلل کیږي. همدارز د هغو کسانو کاندید کیدل چې په دولت کې نور مسولیتونه هم لري، د ګټو د تضاد له امله، امکان لري د هغه کاندیدي رد شي. (د بیلګې په توګه د یوه پوځي افسر او یا د یوه قاضي وړاندیز رد شي).   هیڅ کس د توکم، جنسیت، مذهب، تخصیلاتو او یا سیاسي فکر له امله نه رد کیږي.

نور مهم موضوعات:

- آیا امکان لري، ټول کاندیدان په ځانګړې توګه خپلواک کاندیداند تاکنو په بهیر کې شامل شي؟
- آیا امکان لري، چې د کاندیدانو د صلاحیتونو د پیژندنې بهیر وځنډیږي او یا په هغې کې د پیسو ورکولو ته اړتیا وي او په پایله کې یوشمیر د نورو په پرتله لوړ وبلل شي؟

- آیا وګړنیز معیارونه داسې تعریف شوي دي چې ښایي د هغې له د یوشمیر کاندیدانو صلاحیتونه رد شي؟
- آیا هغه کسان چې د یوشمیر جرایمو له امله ترې صلاحیتونه اخیستل شوي، په عادلانه توګه محاکمه شوي دي که د محکمې حکم له ټاکنو څخه د هغوی د محروم ساتلو په موخه صادر شوي دي؟

## د ټاکنیزو حوزو په ویش کې انډول

د ټاکنیزو حوزو تقسیم بندي په عادلانه توګه د ټاکنیزو حوزو د سرحدونو ټاکل دي. دا تقسیم بندي باید د هر بهیر لپاره له سره وټاکل شي، تر څو د سیمو د وګړو بدلون په پام کې ونیول شي او په حوزو کې د وګړو له بدلون څخه مخنیوي وشي. همداراز د ټاکنیزو حوزو تقسیم بندي کیداي شي د ټاکنو د پایلو د تحریف لامل شي، په ځانګړې توګه که چیرې دا کار د پارلمان ته چې پکې حاکم ګوند اکسریت لري ورکول شي. د ټاکنو له قانون څخه د ګټې اخیستو به موخه د حاکمو ګوندونو لخوا د ټاکنیزو قواعدو بیا لیکل، معمول کار دي.



خبریالان باید پام وکړي چې سیاستوالان په معموله توګه له دریو تکنیکونو څخه ګټه اخلي:

- په څو ټاکنیزو حوزو د ټاکنیزو سنګرونو ویش د دې لپاره کیږي چې زیاتو کاندیدانو ته د لږو رایه ورکونکو زمینه مساعده کړي.
- په هغو سیمو کې چې هلته مخالف ګوندونه پیاوړي وي د سترو ټاکنیزو حوزو جوړول، تر څو تر ممکنه حده د هغوی د ټاکنیزو ګټونکو شمیر راکم کړي.
- هغو سیمو کې چې حاکم ګوندونه کولي شي د رایو په اکثریت ګټونکي شي له زیاتو رایه ورکونکو سره د حوزو ویش. د دغې تګلارې له مخې یوه ټاکنیزه حوزه داسې ټاکل کیږي چې د اپوزیسیون د پلویانو مشخصه ډله هم رانغاړي، البته د دغې بنې له مخې په یوشمیر ټاکنیزو حوزو کې حاکم ګوند له ګټونکو کاندیدانو څخه محروم کیږي.

**هغه محال چې د ټاکنو قانون د مخالفانو د محروم کولو لپاره طراحي کيږي**

د حکومت د مخالف ګوند مشر چې د اوږدې مودې لپاره بې په غير دموکراتيکه توګه واک پهلاس کې وو، د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره د تيارۍ په موخه د ګوند له مشرۍ ګوښه کيږي. خو له ټاکنو څو مياشتې وړاندې، يوه اصلاحيه تصويبوي چې د هغې پر بنسټ يوازې د ګوندونو مهم غړي کولي شي ځان د ولسمشريزو ټاکنو لپاه کانديد کړي. ياده شوي اصلاحيه روښانه کوي يوازې د ګوندونو هغه مهم غړي چې د دغه صلاحيت د وضع کيدو پرمهال پر دغه چوکۍ دنده ترسره کوي، حق لري تر څو د ولسمشريزو ټاکنو لپاره ځان کانديد کړي.

## ۲.۲ د رايه ورکونکو نوم ليکنه

د رايه ورکونکو د نوم ليکنې په بهير کې ټول هغه کسان چې د رابې ورکولو په شرايطو برابر وي ثبت کيږي. د مدني ـ سياسي حقونو نړيوال ميثاق (۱۹۶۶)، له مخې د رايه ورکونکو نوم ليکنه بايد تر ممکنه حده ساده وي او همداراز د نوم ليکنې محلاتو ته بايد ټول وګړي لاسرسي ولري. په هغو هيوادونو کې چې څو ډوله ژبې شتون ولري، ټول معلومات بايد په هغو رسمي ژبو چې اساسي قانون د هغې يادونه کړې ده او لږکيو په ژبو چمتو شي.



د رايه ورکونکو د نوم ليکنې د نوملړ جوړول او د رايه ورکونکو د بيا نوم ليکنې بهير کيداي شي په ځينو هيوادونو په ځانګړې توګه په هغو هيوادونو کې ستونزو رامنځته کړي چې د وګړو د ځاي پر ځاي کولو له کړکيچ سره مخامخ دي. رايه ورکونکي بايد د اوسيدو په نويو سيمو کې بيا ثبت شي او د هغوی نومونه له پخوانيو سيمو څخه حذف شي.

د رايه ورکونکو د نوملړ جوړول کولي شي، د يوه کس له نوم څخه په ګټې اخيستو يا په څو ليستونو کې د يو فرد نوم او يا د مړ شوي کس له نوم څخه په ګټې اخيستو د ټاکنيزو درغليو مخه ونيسي. دا ډول درغلۍ معمولاد حاکمو ګوندونو لخوا ترسره کيږي.

يو خبريال بايد په ډيرې هوښيارۍ سره د رايه ورکونکو د نوم ليکنې بهير وه ارزوي. خبريال بايد د ټاکنيزو ادارو د مسولو کسانو په ملاتړ سره ثابته کړي چې د رايه ورکونکو د ورتيا په ګډون د رايه ورکونکو د نوملړ جوړيد شفاف وو.

## د رایه ورکوونکو وړتیا

- د یوه هیواد ټول وګړي، په داسې حال کې چې د رایه ورکولو معیارونه او وړتیا ولري، حق لري چې په ټاکنو کې ګډون وکړي. دا معیارونه د ټاکلي عمر، د ذهني ناتوانۍ او یا قانوني معذوراتو له مخې د ټاکنیزو ادارو لخوا د هغوی رد کیدل دي.
- په هغو هیوادونو کې چې د دوه تابعیت لرونکي او یا تبعید شوي کسان د رایه ورکولو حق نلري، خبریال باید ځان ډاډه کړي چې د رایه ورکولو معیارونه د مخالفینو د رابو کمولو په موخه له رابې ورکولو مخکې ندي تغیر شوي.
- په ځینو وختونو کې د افرادو د وړتیا ردولو په موخه یوشمیر کسان په جرمونو محکومیږي تر څو د رابې ورکولو له حق څخه محروم شي.
- د قانون له مخې وګړي باید د جنیست، توکم، سیاسي نظرونو، مذهب، ژبې، بې سوادۍ، مالکیت او یا د نوم لیکنې د لګښت د توان نه لرلو له امله له رایه ورکولو محروم شي.

## د رایه ورکوونکو د نوم لړ څېړل



کله چې د رایه ورکونکو نوملړ جوړیږي، خبریالان باید لاندې طرزالعملونه په پام کې ولري:

- د ټولو هغو وګړو نومونه چې په ټاکنو کې دګډون وړ دي باید په نوملړ کې شامل وي.
- د ټولو هغو کسانو نومونه چې مړه شوي باید له لیست څخه حذف شي.
- د یوه رایه ورکونکي نوم باید په یوه نوملړ کې موجود وي.
- د ټاکنو قانون باید هغو کسانو ته چې د رایه ورکونکو په نوم لړ کې نوم موجود ندي، او توانیدلي چې خپل هویت ثابت کړي د رابې ورکولو اجازه ورکړي.
- د رایه ورکونکو د نوم لیکنې طرزالعملونه، د نوم لیکنې د نیټې په ګډون، باید په ټولو سیمو کې یوشان وي.
- د نوم لیکنې ګرځنده ډلې باید لیرو پرتو سیمو ته واستول شي.
- د رایه ورکولو په ټاکلو سیمو کې د غیر معمولو او زیاتو کسانو نوم لیکنه باید په ټاکنیزو درغلیو کې وشمیرل شي.

## آیا ماشومانو رایه ورکړې ده؟

په یوه هیواد کې د رایه ورکونکو د نوم لیکنې نوي نوم لړ د کابو لس لسنه رایه ورکونکو د زیاتوالي څرګندونه کوي.
۴۵ سلنه دغه کسان د هیواد له شمالي سیمو دي، یعنې د حاکم ګوند د فعالیتونو د مرکز له سیمې دي. ۳۰ سلنه نور د هیواد د مرکز چې هلته هم حاکم کوند نفوذ لري. ۲۵ ویشت سلنه د هیواد په سویل پورې اړه لري چیرته چې د حکومت خالفین پکې زیات نفوذ لري. دا ناسم انډول د حیرانتیا وړ دي، ځکه چې په سویل کې د ثبت شویو رایه ورکونکو شمیر د شمال په پرتله درې برابره کم دي. اپوزیسیون فکر کوي چې حاکم ګوند د دولتي کارکونکو په مرسته، په مرکزي او شمالي سیمو کې ماشومان هم د رایه ورکولو په موخه په نوملړ کې راوستي دي.
تور د اسنادو او شواهدو له مخې ثابتیږي، خو د رایه ورکولو په ورځ کې، د هیواد په شمال او مرکزي سیمو کې څارونکي څرګندوي چې زیات شمیر رایه ورکونکي کم عمره کسان دي.



### ۳.۳ د ټاکنو د تنظیم اداره

په ډیرو دموکراتیکو هیوادونو کې د ټاکنو ملي او خپلواکې اداري رامنځته شوي دي تر څو د ټاکنو روڼتیا او اعتبار تضمین کړي. په هغو هیوادونو کې چې دا سیستم منل شوي ، کله چې درغلي لیدل کیږي، د ټاکنو پایلې باید وځنډول شي، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د دغې درغلۍ له امله د ټاکنو وروستۍ پایله زیان لیدلي شي که نه؟
د ټاکنو کمیسیون له ملي ادارو سره یوځای د ټاکنو بهیر تنظیم او پر مخ بیایي. هغوی د رایه ورکونکو، کاندیدانو او ګوندونو د وړتیا معیارونه تثبیت کوي او د ټاکنو پورې اړوندو لوړ پوړو کسانو، د رایه ورکولو د مرکزونو کاروکونکو، د رایو د شمیرنې او مدیریت پر بهیر څارنه کوي. کمیسیونونه هم ټاکنیز قواعد تصویب کوي او د هغې پلي کول په غاړه اخلي. (په دې اړه راتلونکي پاڼې وګورئ).
د کمیسیونونو دا بیساري واک هم د هغوې د مطلق بې پریوالي له امله دي. ټاکنیز کمیسیونونه معمولا د مدني ټولنې له غړو جوړیږي. په داسې حال کې چې په یوشمیر هیوادونو کې د ټاکنیزو کمیسیونونو غړي د ګوندونو لخوا ټاکل کیږي. د ټاکنیزو

کمیسیونونو د خپلواکۍ لپاره هیڅ ځانګړي فورمول شتون نلري. امکان لري په ټاکنیزو کمیسیونونو کې ناوړه ګټه اخیستنه، اداري فساد او ویرول موجود وي.

یو خبریال باید ثابته کړي چې د ټاکنیز کمیسیون جوړښت د هغې د دموکراتیک ماموریت پر بنسټ ترسره شوي دي. د خبریالانو دا فعالیتونه د لاندې مواردو لرونکي دي:

- د ټاکنو د کمیسیون او د هغې د غړو په اړه ریپوټ ورکول. د ټاکنو د کمیسیون د اختیاراتو کچه تر کومه حده ده؟ د ټاکنیز کمیسیون څه وړتیاوې لري؟ آیا په سیاست کې ښکیل دي؟ آیا له حکومتي چارواکو او ګوندونو سره کورنۍ اړیکې لري؟ آیا د اقتصادي ګټو لرونکي چې له یوه ګوند د پلوي لامل شي لري؟
- له کاندیدانو او ګوندونو سره د ټاکنو د کمیسیون د چلند څېړل. آیا ټاکنیز کاندیدان د وړتیاو د څېړلو پرمهال سلب صلاحیت شوي دي؟ که چیرې داسې څه رامنځته شوي وي، آیا دا کار د حاکم ګوند او یا ولسمشر چې ټاکل شوي له واکه لیرې شي په ګټه دي؟ آیا ټاکنیز مبارزو قواعد پر ټولو ګوندونو یوشان پلي کیږي؟ آیا د اپوزیسیون اعتراضونه د حاکم ګوند اعتراضونو په څیر د څیړنې په مورم کې شته؟ کله چې حکومت د ټاکنو له قانون څخه سرغړونه کړې، آیا کمیسیون دا قضیه مسولو قانوني ادارو ته لیږلې ده؟
- د ټاکنو د کمیسیون لپاره د کافي مالي او لوجیستکي سرچینو تثبیتول. آیا د ټاکنو د کمیسیون د لګښتونو په اړه اسنادو ته خلک لاسرسي لري؟ آیا د ټاکنو د کمیسیون کارکونکي په سمه توګه روزل شوي دي؟ دا وروستي مورد مهم دي ځکه تل اختلاقات د ټاکنو پر پایلو د څارنې نشتوالي له امله رامنځته کیږي. کله د ټاکنو د کمیسیون د کارکونکو د ناسم پوهاوي او په سمه توګه نه روزل کیدو له امله امکان لري د ټاکنو پایلې هم اغیزمنې شي.

رسنۍ باید د ټولو وضع شویو میکانیزمونو اعتبار، چې د سیاسي ګټې اخیستو په ځانګړې توګه د حاکم ګوند د نفوذ مخنیوي په موخه رامنځته شوي، وڅیړي.

مثال: په هغه هیواد کې چې د عادلانه او با اعتباره ټاکنو ترسره کیدو په موخه د رایه ورکونکو او درغلي کونکونومونه په بریښنایي، دایمي، اتوماتیک توګه تصدیق شوي وي، د رایه ورکولو په ورځ د پایلو د خپریدو په ورځ بریښنا بندیږي.

## د ټاکنو د یوه خپلواک کمیسیون بهرنی انځور

د یوه هیواد د ټاکنو خپلواک کمیسیون چې د ټاکنو د ترسره کولو مسولیت لري، له یوه قاضي، د حاکم ګوند له پنځو غړو، د پارلماني اپوزیسیون له پنځو غړو، د هغو ګوندونو له درې غړو چې په پارلمان کې حضور نلري او د مدني ټولنې له دریو غړو جوړیږي. د هغو ګوندونو غړي چې له پارلمانه بهر دي او د مدني ټولنې غړو ځکه چې د پارلمان لخوا چې پکې حاکم ګوند مطلق اکثریت لري ټاکل شوي وي په دغه کمیسیون کې برخه لري.
دا حالت کولی شي د ټاکنو په کمیسیون کې حاکم کوند برلاسي کړي. لکه څنګه چې امکان لري د ټاکنو پایلې هم اغیزمنې کړي. ځکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ډیرو مواردو کې د خپلو غړو ترمنځ د اختلاف وړ موضوع د رایې ګیرۍ په طریقې اواروي په داسې حال کې چې حاکم ګوند پکې زیات نفوذ لري.

### ۲.۴ کاندیدان او سیاسي ګوندونه



د هغو کاندیدانو او ګوندنو حقونه او وړتیاوې چې په ټاکنو کې د یو بل په وړاندې سیالي کوي، په عمومي توګه په قانون کې لیکل کیږي. دا قوانین د ټاکنیزو مبارزو د قواعدو جزیات ټاکي؛ دټاکنیزو مبارزو وخت، مالي بنې، د اعلاناتو ډولونه او د اعلاناتو د نصب ځایونه، د کاندیدانو ترمنځ د خبرو او بحث ډولونه چې له یوبل سره یې کوي، د ستونزو د اوارۍ طرزالعمل او داسې نور.
د یوه هیواد په پرتله په بل هیواد کې امکان لري د ټاکنیزو قوانینو ګټې، بدلون ولري. خو ټول قوانین باید د مدني – سیاسي نړیوال میثاق (۱۹۶۶) سره مطابقت ولري چې پکې د ټاکنیزو مبارزو پرمهال د هر کاندید او ګوند حقونه، د عمومي سلامت د محدودیتونو په چوکاټ کې تضمین شوي دي.
د ټاکنو قوانین عموما په خپله د ګوندونو لخوا تسوید کیږي. په هغو قواعدو کې چې په لیکلو کې په خپله ګوندونه پکې دخیل وي او په آزادنه توګه یې هغه منلي بریا زیاته ده. که یوشمیر ګوندونه د دغو قوانینو له بریا سرغړونه کوي، خبریالان باید د هغې لامل وڅیړي. کله چې ټولو ګوندونو ټاکنیز قواعد ومنل، خبریال دنده لري چې د قواعدو د بشپړ بیا او

هغې ته له احترام کولو څخه ځان پوه کړي.

## د کاندیدانو او ګوندونو حقونه

- د سیاسي غونډو د جوړولو او د معلوماتي خبرتیاو د نصب حق د هغو محدودیتونو لخوا چې قانون ټاکلي دي ترسره کیږي.
- هیڅ کاندید او یا د هغه د ټاکنیزې مبارزې د ډلې غړي باید له ګواښونو، ځورونې، خبرداري او یا برید سره مخامخ نشي.
- هیڅ وګړي باید د ګواښ او یا بلې غیر قانوني لارې په کارولو له رایه ورکولو څخه منع نشي.
- د قانون پلي کونکي اداري باید، له هر ډول تبعیض پرته د ټولو کاندیدانو او د هغو سیمو امنیت چې پکې سیاسي غونډې جوړیږي ټینګ کړي.
- د ټاکنو کمیسیون باید ټاکنیز قوانین پر ټولو ګوندونو او کاندیدانو، په ځانګړې توګه د شکایتونو او ستونزو په برخه کې په یوشان عملي کړي.
- د کاندیدانو او ګوندونو مسولیتونه
- تاوتریخوالیو ته د لمن وهلو او ملي امنیت ته د ګواښ لامل باید نشي.
- د نورو ګوندونو په وړاندې باید د توکمیزو، جنسیتي، مذهبي او یا ټولنیزو تفاوتونو په اړه د سپکاوي ډې ویناوې خپرې نکړي.
- خپل سیاسي بریدونه باید د خپل خصوصي ژوند او سیاسي مخالفت پر بنسټ جوړ نکړي.
- د نورو ګوندونو او کاندیدانو غونډې باید ګډوډې نکړي. همداراز په ورانکاریو باید لاسپورې نکړي، د نورو نښانونه، سندرې او خبرتیاوې باید تحریف نکړي.
- د رایه ورکونکو ملاتړ او رایه باید په پیسو وانخیستل شي.
- د انضباطي اصولو لرونکي اوسي، له ټاکنیزو قواعدو د سرغړونې په صورت کې خپلو غړو ته سزا ورکړي.
- خپلې مالي سرچینې باید روښانه کړي او په اړه یې معلومات خپاره کړي.
- له عامه سرچینو لکه (موټرونه، ودانۍ او داسې نورو) څخه په ټاکنیزو مبارزو کې ګټه واخلي.

### د خلکو د ملاتړ او رایو پېرل

یو هیواد پریکړه کوي په ټاکنو کې د فساد په وړاندې د مبارزې لپاره د ګوتې له نښې په ټاکنیزو کارتونو کې کار واخلي. د ګوتې د نښې ثبت کونکي ماشینونه د هیواد بیلابیلو سیمو ته استول کیږي تر څود په شرایطو د برابرو کسانو د ګوتو نښې ثبت کړي.
کله چې ټاکنیزې مبارزې پیلیږي، حاکم ګوند خپل فعالین د هیواد بیوزلو سیمو ته استوي؛ په هغه ځاي کې چې ډیر خلک بې بې سواده دي حاکم ګوند د رایې ورکولو په صورت کې خلکو ته د پیسو د ورکړې ژمنه کوي او وایي چې د ګوتې د نښې په اخیستو سره به حکومت پوه شي چې نوموړي چا ته رایه ورکړې ده.
ډیر خلک به په دې موضوع باور ولري، ځکه د رایې ورکولو پرمهال به له هغوی څخه وغوښتل شي چې خپله رنګ شوې ګوته خپل د پام وړ کاندید د تصویر په وړاندې کیږدي او هغه په نښه کړي.



### ۴.۵ رسنیو ته په مناسبه توګه لاسرسي

ټول ګوندونه چې د ټاکنو پرمهال سره سیالي کوي، باید په مناسبه توګه رسنیو ته لاسرسي ولري. دا د آزادو، رڼو او با اعتباره ټاکنوله بنسټیزو اصولو څخه دي چې د دموکراتیکو نظامونو لخوا په پام کې نیول کیږي.
په ډیرو قضایاو کې د ټاکنو کمیسیون او یا بله څارونکې اداره، د دغو اصولو څرنګوالي او د متخلفینو سزا ټاکي. خبریالان باید له هغو قوانینو چې په ټاکنو کې د رسنیو ونډه روښانه کوي پوه اوسي.
رسنیوته په مناسبه توګه لاسرسي په بشپړه توګه د انډول په معنې ندي. په داسې حال کې چې د کاندیدانو او ګوندونو شمیر ډیر زیات وي، د غږیزو، تلویزیوني او چاپي رسنیو شمیر د هغوی د اهمیت له مخې پرې ویشل کیږي.
د ګوندونو او کاندیدانو د اهمیت معیار، معمولاً پارلماني چوکیو شمیر، په حکومت کې د شته غړو شمیر، د هغو رایو کچه چې په تیرو ټاکنو کې ګټلې او د هغو کاندیدانو شمیر چې د اوسنیو ټاکنو لپاره مطرح شوي دي او موجود دي.

همداراز کيداي شي، شته ونډه د ګوندونو ترمنځ په مرکې سره وټاکو. دا مرکه هغه مهال ترسره کيږي چې د تيرو ټاکنو پايلې کړکيچنې شوي وي.

## هغو رسنيو ته لاسرسي چې عامه ملکيت بلل کيږي

هغه رسنۍ چې عامه ملکيت بلل کيږي، د قانون له مخې د عامه ګټو مدافع بلل کيږي. دا ځانګړنه د دې لامل کيږي چې عامه رسنۍ په عادلانه توګه فعاليت وکړي. خبريالان بايد ډاډه شي چې عامه رسنۍ د حکومت تر اغيزې او نفوذ لاندې ندي. د عامه رسنيو د بې پريوالي په اړه د خبريالانو ډاډمن کيدو په خاطر لاندې ټکي اړين دي:

- د رسنيو د نشراتو مهال ويش هغه مهال له ستونزو سره مخامخ کيږي چې حاکم ګوند په غږيزو او ټلويزيوني رسنيو کې ځانته ښه وخت ځانګړي کړي او نورو ګوندونو ته لږ وخت په پام کې ونيسي.
- د حکومت د مسوليتونو له امله، حاکم ګوند د نورو ګوندونو په پرتله له زيات نشراتي امکاناتو څخه برخمن کيږي. خو دا نابرابري بايد معقوله اوسي او له نورو لارو جبران شي.
- رسنيو ته د لاسرسي مناسبوالي د رسنيو د پوښښ د ډولونو له پلوه هم سنجول کيږي. هغه رسنۍ چې عامه ملکيت بلل کيږي، بايد ګوندونو او کانديدانو ته هيڅ ډول لوړوالي او يا منفي نظر ونکړي.
- رسنيوته د لاسرسي د مناسبوالي اصل بايد په ټولو پروګرامونو لکه، خبرونه، مرکې، بحثونه او ژونديو خپرونو کې ګړندي شي.



### د هغو رسنيو غير منصفانه نشرات چې عامه ملکيت بلل کيږي

د هيواد د ټاکنو قانون، دولتي راډيو ملکفه بولي تر څو دريو عمده، ګوندونو ته چې د ټاکنو پرمهال سره سياسي کوي د خپرونو مساوي وخت مساعد کړي.
پريکړه کيږي چې د نشراتي وخت نيمه برخه دريو سيالو ګوندونو ته په لاندې ټول په پام کې ونيول شي: ۴۰ سلنه وخت حاکم ګوند ته، ۴۰ سلنه هم دوهم ګوند ته او پاتې شل سلنه وخت دريم ګوند ته چې په تيرو ټاکنو کې دريم ځاي خپل کړي وو ورکول کيږي. راډيو د نيول شوې

پريکړې له مخې عمل کوي، خو د خبري پروګرام پاتې برخه د حکومت فعالیتونو ته ځانګړې کوي. دا په داسې حال کې ده چې د حکومت ټول غړي د حاکم ګوند پورې اړه لري.
له دې امله نوموړې راډيو په مجموع کې ۷۰ سلنه نشراتي وخت حاکم ګوند ته، شل سلنه دوهم او لس سلنه دريم ګوند ته ځانګړې کړې دي.

## خصوصي رسنيو ته لاسرسي

هغه رسنۍ چې خصوصي ملکيت بلل کيږي هم ټولو ګوندونو او کانديدانو ته د مساوي وخت پر ورکولو مکلف دي. په يوشمير هيوادونو کې د خصوصي رسنيو پورې اوند ټاکنيز مقررات د عامه رسنيو په شان دي. خو په يوشمير نورو هيوادونو کې د نشراتي خپلواکۍ د ساتلو په موخه، د ټاکنو پرمهال د خصوصي رسنيو نشرات د ټاکنو د قانون لخوا تنظيم کيږي.
د مثال په توګه، غيرمعقوله به نوي چې يوه رسنۍ له يو کانديد څخه ملاتړ کوي او د هغې سيال تر نيوکې لاندې نيسي. خو دا رسنۍ بايد کانديدانو ته د نيوکو د ځواب ويلو حق ورکړي او د هغه د نظرياتو د خپرولو په بدل کې بايد له نوموړي د پيسو د اخيستو غوښتنه ونکړي.
سربيره پر دې، د ټاکنو پرمهال خصوصي رسنۍ ملکفې دي چې د خبريالۍ ټول مسلکي او اخلاقي قواعد په پام کې ولري او د ريپوټ ورکولو پرمهال له کرکه لرونکي، هڅونکي او له تعصبه ډک لحن ونکاروي. د مثال په توګه که چيرې د پيسو په بدل کې د سياسي پيغامونو خپرول جواز ولري، خصوصي رسنۍ بايد ټولو ګوندونو او کانديدانو ته د پيغامونو د خپرولو حق او د وخت د ټاکلو حق ورکړي.
په پاي کې خبريالان بايد په پام کې ولري چې ټولې رسنۍ، عامه او خصوصي بايد د ټاکنيزو مبارزو پورې اوند مقررات په پام کې ونيسي او د ټاکنو د کميسيون د پروګرام له مخې د ټاکنيزو مبارزو – د چوپتيا پړاو ته احترام وکړي او هغه محدوديتونه چې د ټاکنو د پايلو په اړه له وخته مخکې ريپوټ خپرولو او د ټاکنو په اړه دي په پام کې ولري او عملي کړي.

## ۲.۶ د ټاکنو ورځ

د رايه ورکولو پرمهال کيداي شي د روښانه او سترو درغليو لکه د رايو د صندوقونو ډکول

او د ټاکنو د رسمي پايلو د تحريف شاهد اوسی. په تيره يوه لسيزه کې د رايې ورکولو په مرکزونو کې د ټاکنيزو څارونکو د حضور له امله داشان درغلۍ راکمې شوي دي.

خو تر اوسه هم خطر موجود دي او امکان لري د ټاکنو په هر پړاو کې درغلي وشي. کيداي شي رايه ورکونکي د رايې ورکولو پرمهال له ګواښ سره مخامخ شي. کيداي شي رايې لمنځه ولاړې شي او يا هم د شميرنې پرمهال د رايو پر شمير نورې رايې ورزياتې شي. او يا امکان لري د اريې صندوقونه د ټاکنو د کميسيونونو سيمه ايزو مرکزونو ته د رايو د صندقونو د ليږد پرمهال دا صندقونه بيا ډک شي او يا هم د ټاکنو پايلې د ټاکنو د کميسيون مرکزي دفتر ته له ليږلو مخکې تحريف شي.

خبريالان بايد د رايه ورکولو د بهير په هره مرحله کې لاندې پوښتنې له ځاه وپوښتي:

رايه ورکول

- آياد درايه ورکولو د مرکز دننه او څنګ ته تبليغاتي فعاليتونه او يا تبليغاتي توکي شته؟ آيا پر رايه ورکونکو د فشار او يا ګواښ نښې ليدل کيږي؟
- آيا غير مسول کسان، لکه پوځيان د رايه ورکولو په مرکزونو کې حضور لري؟ که حضور لري آيا د ټاکنو د بهير د کارکونکو په کارونو کې لاسوهنه کوي؟
- آيا د رايه ورکولو طرزالعملونه په پام کې نيول کيږي؟ آيا د ټاکنو په مرکزونو کې د ټاکنو د کميسيون لخوا موظف کسان حضور لري، تر څو د طرزالعمل پلي کول په پام کې ولري؟ آيا رايه ورکول سري وو؟ آيا د درايه ورکولو صندوق په سمه توګه قلف شوي وو؟ آيا د يوه کانديد لخوا د رايه ورکولو په صندوق کې د ډکولو نښه ليدل کيږي؟
- آيا د رايه ورکولو په مرکزونو کې د ګوندونو استازي حضور لري؟ آيا دهغوی دڅارنې په کار کې چا لاسوهنه کړې ده؟ آيا د غو استازو د ټاکنو د کميسيون به دندو کې لاسوهنه کړې ده؟



## د رايو شميرنه

- آيا رايې په اصولي او سمه توګه حساب شوي دي؟ آيا د هر يو کانديد رايې په سمه توګه بيلې او حساب شوي؟ آيا د رايه ورکونکو شمير په صندوق کې له موجودو رايو سره برابر دي؟ آيا د رايو سپينې پاڼې په مناسبه توګه ساتل او باطل کړاي شوي دي؟

- آیاد د ټاکنو د کمیسیون د کار کونکو ترمنځ د نظر یو والي رامنځته شوي؟ آیا ټولو دغو کارکونکو د رایې ورکولو پایلې لاسلیک کړي دي؟ که نه پې لاسلیک کړي، نو ولې؟ آیا د رایو کاپي د ګوندونو استازو او ټاکنیزو څارونکو ته سپارل شوي؟
- د عمومي رایو راغونډول
- آیا د ټاکنو د کمیسیون سیمه ایزو دفترونو ته د رایه ورکولو د مرکزونو د رایو د صندوقونو او نورو اسنادو د لیږد لپاره آمنیت په سمه توګه ټینګ شوي دي؟
- آیاد د ګوندونو استازو او ټاکنیزو څارونکو د ټولو رایو د راغونډولو پرمهال د حضور حق درلود؟ آیاد د هغوی په فعالیتونو کې لاسوهنه شوې ده؟ آیا هغوی د رایه ورکولو د مرکزونو د رایو د پایلو یوه کاپي مخکې له دې چې د ټاکنو کمیسیون سیمه ایز دفتر ته واستول شي ترلاسه کړې وه؟

### د ټاکنو د پایلو اعلان

- آیا د ټاکنو د پایلو په اعلان کې غیرمعمول ځنډ رامنځته شوی؟
- آیاد د ګوندونو استازو اجازه درلوده چې د رایو شمیرنې په وروستي پړاو کې حضور ولري؟
- آیاد د ټاکنو دورځې رایو د شمیر او د ټاکنو د وروستیو پایلو د اعلان ترمنځ توپیر شته؟
- له ټاکنو وروسته ستونزې
- آیا کاندیدانو د ټاکنو د پایلو په اړه خپل اعتراضونه ثبت کړي دي؟ آیاد د اعتراضونو ثبت بهیر ته کافي وخت ورکول شوي دي؟ آیاد د هغو ادارو چې د ټاکنیزو شکایتونو د اوارې مسولیت په غاړه لري د نه خپلواکۍ په اړه نښې نښانې شته؟ آیاد د اعتراضونو د رد او قبول لاملونه معقول معلومیږي؟

### ۲.۷ د ټاکنو د وروستیو پایلو اعلان

خبریالان باید د ټاکنو د وروستي پایلو له اعلان سره په احتیاط چلند وکړي. د ټاکنو د وروستیو پایلو د غیر معقول پوښښ په صورت کې کیداي شي په ټولنه کې اړ او دوړ رامنځته شي. په ځانګړې توګه کله چې کاندیدانن د رایې ورکولو پرمهال یو بل د درغلیو پر کولو تورن کړي وي. کله چې ټاکنیزې اعتراضونه په مسولو ادارو کې ثبت شي. خبریالان باید د

اعتراضونو لاملونه او د ستونزو د څېړنې بهیر ګام په ګام تر پوښښ لاندې ونیسي.
له اساسي قواعدو څخه یو دادي چې خبریال باد د ټاکنو د کمیسیون لخوا له رسمي اعلان څخه مخکې د ټاکنو وروستۍ پایلې، خپرې نکړي. په ډېرو هیوادونو کې خبریالان له دغې قاعدې څخه د سرغړونې له امله مجازات شوي دي.
د رایو د شمیرنې بهیر باید په ژوندۍ بڼه خپرو نشي. هیڅ کله باید د حس او ګمان له مخې د رایو د شمیر په اړه ریپوټ ورنکول شي. که څه هم چې کیداي شي خبریالان د رایو د شمیرنې د سیمې پر حاکمې اوضاع ریپوټ خپرو کړي؛ د مثال په توګه د رایو په شمیرنه کې څوتنه دخیل دخیل دي؟ آیا هغه طرزالعمل چې د ټاکنو د کمیسیون لخواوضع شوي، په سمه توګه اجرا کیږي؟

## جزئي او وروستۍ پایلې

د هیوادونود ټاکنیزو نظامونو په پام کې نیولو سره، کیداي شي، د رایو د شمیرنې طرزالعمل، د عمومي رایو د راغونډولو بهیر او د اعتراضونو د اوارۍ چارې ( کیداي شي د رایو د بیا شمیرنې لامل شي) ښایي څو ساعته او یاهم اونۍ وخت ونیسي. په همدې ډول کیداي شي د ټاکنو پایلې، په تدریجي توګه سیمه په سیمه او ناحیه په ناحیه او یا هم په د رایې ورکولو په هر مرکز کې په دوامداره توګه اعلان شي. ٤٨
د رایو د شمیرنې په لومړي پړاو کې د خبریالانو لخوا د رایو د جزي پایلو خپریدل امکان لري د درغلیو په راکمیدو کې مرسته وکړي. د ټاکنو د قانون له مخې، جزي پایلې باید د رایه ورکولو د مرکز د رسمي اعلامیې او یا د ټاکنو د کمیسیون د سیمه ایز دفتر لخوا وشي.

## سروې ګانې او د ټاکنو د پایلو وړاند وینه

د رایه ورکولو په مرکزونو کې له رایه ورکونکو سره مرکه په یوشمیر هیوادونو کې له معمولو تجربو څخه بلل کیږي. د دغو مرکو موخه د ټاکنو د پایلو له رسمي اعلانه مخکې د احتمالي پایلو په اړه پوهاوي دي.
خو دا بڼه هم زیات د اعتبار وړ نده، ځکه څوک نه پوهیږي له هغو کسانو سره چې ورسره مرکه کیږي، رینښتیا وایي که نه. آن په پرمختللو دموکراتیکو نظامونو کې اړتیا لیدل کیږي، چې د

رایه ورکولو د سیمې مرکې باید بې پرې او با اعتباره اوسي. له دې سره سره د رایه ورکولو د سیمې د مرکو پایلې باید د رایې ورکولو د وروستي مرکز له تړل کیدو مخکې باید خپرې نشي.
عین پاملرنه باید د رایه ورکونکو د بیلګو اخیستلو تکنیک ته، چې د ټاکنو د پایلو وړاند وینه بلل کیږي شي. دا وړاند وینه معمولاً د جزي پایلو د شمیرنې پر بنسټ کیږي. هغه رسنۍ چې له دغې بڼې کار اخلي، خپل د کار بڼه خلکو ته اعلانوي او په دغې بڼه کې د تیروتنې کچه هم روښانه کوي.
رسنۍ باید پاملرنه وکړي چې یواځې په هغه صورت کې کول شي له دغې بڼې کار واخلي، چې د ټاکنو د کمیسیون لخوا اجازه ورکول شي. د مجازوالي په صورت کې باید رسنۍ هغه محدودیتونه چې امکان لري موجود وي باید په پام کې ونیسي.

## ۳.۸ د ټاکنو پر بهیر نور څارونکي

### سیاسي ګوندونه



سیاسي ګوندونه پر یو بل څارنه کوي. هغوی حق لري چې د ټاکنو په ورځ د هغو استازي د رایې ورکولو په مرکز کې حضور ولري. په یوشمیر هیوادونو کې په ټولو کچو( سیمه ایزو، ځایي او ملي) برخو کې د ټاکنو د کمیسیون کارکونکي د سیاسي ګوندونو لخوا ټاکل کیږي.
د ګوندونو هر استازي کولي شي خبریالانو ته د درغلۍ او یا د مخالفو ګوندونو لخوا د درغلیو په اړه معلومات ورکړي. خبریالان کولي شي له دغو سرچینو په ریپوټونو کې کار واخلي، خو ډیر باید احتیاط وکړي چې د چالخوا په ناوړه توګه ونکارول شي.
کیدای شي هر ګوند ، نوروګوندونو ته د زیان رسولو په موخه، له خبریالانو شایعاتو د خپرولو په موخه کار واخلي.

### مدني ټولنې

ملي او نا دولتي موسسې او ټولنې په ډیرو مواردو کې، د ټاکنو د روڼتیا او څارنې پر موخه د څارونکو په ډله کې فعالیت کوي. خبریالان باید د مدني ټولنو اعلامیو، ریپوټونو او کنفرانسونو ته زیاته پاملرنه وکړي.

امکان لري د مدني ټولنو د ادارو فعالیتونه او ریپوټونه په ټاکنو کې د درغلیو د امکان شتون او یا د مدیریت کمزورتیا ته اشاره وکړي. خو خبریالان باید په دې برخه کې هم په احتیاط عمل وکړي. ټولې مدني ټولنې هم بې پرې او خپلواکې نشي پاتې کیدای. امکان لري یوشمیر دا ټولنې له دولت او ګوندونو سره پټې اړیکې ولري.

## د ټاکنو څارونکي

دموکراسۍ ته د لېږد په لور کې نظامونو کې، پر ټاکنو څارنه د ټاکنو د روڼتیا او د یو والي د ساتلو په برخه کې مهم لاره بلل کیږي. د ډیرو خپلواکو څارونکو شتون د رایه ورکونکو د اعتماد له زیاتیدو او د ټاکنو د مشروعیت د کچې په ټاکلو کې مرسته کوي.
امکان لري د ټاکنیزو څارونکو ماموریت ملي، سیمه ایز او یا هم نړیوال وي. یوشمیر دا څارونکي یوازې د ټاکنو پر ورځ څارنه کوي. په داسې حال کې چې یوشمیر نور بیا د ټاکنو پر ټول بهیر څارنه کوي. ډیر څارونکي له هغه څه چې لیدلي وي د رایې اچونې د بهیر پرمهال خبریالانو ته د معلوماتو له ورکولو منع کیږي. د څارونکو د څارنې ریپوټ د ټاکنو له ترسره کیدو یوه ورځ وروسته په واحد ریپوټ کې را غونډیږي.
کیدای شي یوشمیر څارونکي د نوم له اخیستو پرته، معلومات خبریالانو ته ورکړي. له دې امله خبریال باید هڅه وکړي تر څو له څارونکو سره د اعتماد وړ اړیکې ولري. څارونکي باید د خبریالانو لخوا ډاډه شي چې د هغو نوم او غږ به ثبت نشي او همداراز د هغه د ادارې نوم به هم په ریپوټ کې ذکر نشي.

## ۲.۹ له ټاکنیزو درغلیو سره باید څه ډول چلند وشي

د ټاکنو پرمهال ټولې رامنځته شوې ستونزې د ټاکنیزو درغلیو په معنا نده. د رایې اچونې په یوشمیر مرکزونو کې د یوشمیر طرزالعملونو ناکامي کیدای شي، د ټاکنیزو مرکزونو د کارکونکو د معلوماتو کموالي له امله وي. هغه خبریالان چې د بیلابیلو پیښو د رامنځته کیدو شاهد وي، باید هڅه وکړي تر څوهغه اوضاع او حالت چې په یاده پیښه کې رامنځته شوي په سمه توګه تشخیص کړي.
د بې نظمۍ د ارزونې په موخه چې د رایه اچونې په زیاتو مرکزونو کې رامنځته شوي کیدای

شي د ټاکنو پايلې اغېزمنې کړي باید د هغو په اړه څېړنيز ریپوټ جوړ شي. هغو خبریالانو چې یواځې د رایه ورکولو په مرکزونو کې کوچنۍ اداري ستونزې لیدلې دي، باید یواځې هغه د ټاکنو کمیسیون ته خبر ورکړي.

## احتیاط او د خپل سرۍ نښتون

ټاکنیزې درغلۍ د ټاکنو په پایلو کې د بدلون راوستو په موخه د عمدي بې نظمۍ رامنځته کول دي. خبریالان باید دا بې نظمۍ پیدا کړي. خو په خپله باید په ډېر احتیاط عمل وکړي، ځکه د هغوی لخوا هرډول بې احتیاطي هم کولای شي د تندو غبرګونونو لامل شي.
ټاکنیزې درغلۍ باید د بېلابېلو سرچینو لخوا تایید او تصدیق شي. په یوې ټاکنیزې ناحیه کې د ټاکنیزو درغلیو یوه قضیه نشي کولای ټولې ټاکنې باطلې کړي. ځکه امکان لري په ډېرو سیمو کې د ټاکنو بهیر په عادي توګه پر مخ ولاړ شي. یو خبریال یواځې پر یوه سیمه څارنه کوي. د هغه د معلوماتو پایلې باید د هغه څه په رڼا کې باید وڅېړل شي چې نورو خبریالانو لیدلي دي. یواځې له دغې لارې خبریالان کولی شي په ټاکنو کې د بې نظمۍ پر کچې پوه شي او پر ټاکنو د هغې اغیزې تر څېړنې لاندې ونیسي.

په رسنۍ کې: د نن شپې په خپرونه کې، اپوزسیون خبرې کوي.

On desk: ON TONIGHT'S NEWS, THE OPPOSITION SPEAKS




KASH© / CARTOONING FOR PEACE

# ٣. د رسنيو لخوا د تاکنيزو مبارزو پوښښ

خبريالان بايد د هغه څه په اړه چې په ټاکنو کې له خطر سره مخامخ دي معلومات ورکړي. د دغې چارې ترسره کولو په موخه بايد خبريال د ګوندونو او په ټاکنو کې د سياليو کانديدانو په اړه، د هغوی د اوسني او تيرو ټاکنيزو فعاليتونو په اړه رپوټونه خپاره کړي.

خبريالان بايد د اطلاعاتو راغونډولو په موخه د نورو سرچينو په لټه کې هم اوسي، تر څو يوائې د ګوند پر خبر متکي پاتې نشي. سياسي ګوندونه چې پر رايه ورکونکو د رسنيو له اغيزې خبر دي، معمولاً د اړيکو د تګلارو له مخې د منتقدو خپرونو د محدود کولو او د خپلو مبارزاتي پيغامونو له پراختيا څخه کار اخلي. دا تګلارې د ګوندونو د" رسنيو د اړيکو" دفتر او يا " عامه اړيکو" دفتر لخوا د رسنيو د کارپوهانو په مرسته چې د خبريالانو له منځ څخه ټاکل شوي جوړيږي.

هغه خبريالانو ته چې ټاکنيزې مبارزې تر پوښښ لاندې نيسي يوه ستره ستونزه داده چې د ګوندونو د اړيکو تګلارې ګوري چې له مخې رايه ورکونکو ته واقعا ګټور معلومات وړاندې کوي. هغه ويناوې، کنفرانسونه او خبر پاڼې چې د ګوندونو او يا کانديدانو لخوا خپريږي بايد په احتياط او دقت سره وکتل شي.



چمتوالي، د ټاکنو د پوښښ لپاره يو تر ټولو مهمه ښکارنده ده. د کانديدانو په اړه څيړنه بايد د ټاکنيزو مبارزو تر پيليدو مخکې ترسره شي، تر څو وشي کولای اړوندې پوښتنې په سم ځای کې مطرح کړي. سمې پوښتنې هغه پوښتنې دي چې د وګړو اندېښنې منعکسې کړي. د ټاکنيزو مبارزو پوښښ بايد هغه اندېښنې خپرې کړي چې د خلکو له ورځنيو ستونزو څخه راپورته کيږي. د خبريالانو له لارې کانديدان اړ کيږي چې تر څو دغو مسايلو ته پاملرنه وکړي او هغوته د اوارې عملي لارې پيدا کړي.

يو خبريال بايد په هغو سيمو کې چې له هغه ځايه رپوټ جوړوي، هره ورځ حضور ولري. خو په ځينو سميو کې د اطلاعاتو غونډولو پرمهال د خبريال د شخصي امنيت د ټينګښت په موخه زيات احتياط ته اړتيا ده. دا مسله هغه مهال رښتيا کيږي چې ټاکنې په داسې هيواد کې چې پکې جګړه وي او يا ماتيدونکي وضعيت ولري ترسره شي.

### ۳.۱ د رسنیو د خبرونو د پوښښ د پروګرام طرحه

د ټاکنیزو مبارزو خبري پوښښ باید د هغې له پیله وړاندې شروع شي. یو خبریال د رسنۍ لپاره ډیر اهمیت لري. ځکه خبریال عملاً د خلکو په منځ کې دي او کولي شي پروګرامونه تر پوښښ لاندې ونیسي، له کاندیدانو سره مرکې وکړي، له عمومي افکارو سم پوهاوي ولري او په پای کې د ټاکنیزو مبارزو په اړه مقالې او مطالب وساتي.

د دې لپاره چې یو خبریال په ښه توګه فعالیت وکړي، باید د خپلې رسنۍ پر مسولینو متکي وي؛ هغه کسان چې د خبرونو تولید تنظیموي او د ټاکنیزو مبارزو د برخې لپاره کارمند استخداموي. دې ته په پام سره چې یو خبریال د ټولو کاندیدانو فعالیتونه تر پوښښ لاندې ونیسي رسنۍ باید د پراخ خبري پوښښ لپاره زیات ریپورټران وټاکي. د ټاکنیزو مبارزو د پوښښ د پروګرامونو طرحه، یو ګروپي فعالیت دي چې توکو او انساني ځواک ته اړتیا لري. انساني ځواک عبارت دي له فلم اخیستونکي، عکاس، غږ اخیستونکي، د غږ او تصویر جوړونکي، د ګرافیک طرحه کونکي او د خبر مدیران. یو خبریال باید ډاډه اوسي چې د هغه د ډلې غړي د نوموړي له مسلکي فعالیتونو په سمه توګه ګټه اخلي.



### پلانونه او د پروګرامونو تنظیم

- د ټلویزیون او یا د راډیو د خبرونو مدیر باید ځانګړي پروګرامونه جوړ کړي؛ د کاندیدانو ترمنځ د مناظرې، ګردي میزونو او یا د تعاملي خپرونو په شان چې کاندیدانو ته اجازه ورکوي تر څو خپل نظرونه مطرح کړي او د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ووایي.
- په چاپي رسنیو کې، مسول مدیر باید د هغو پاڼو شمیر چې پکې د کاندیدانو، لوستونکو، کارپوهانو او ورځپاڼه لیکونکو نظرونه خپریږي، وټاکي.

### د خبر د برخې د کارکونکو د فعالیتونو تنظیم

- د ټاکنو پرمهال د خبرونو د تصحح کونکو غونډې ډیرې مهمې دي. د هغو خبریالانو تر منځ د پریکړې نیولو پرمهال بحثونه چې بیلابیل اړخونه لري، د ټاکنیزو مبارزو د هر اړخیز او انډولیز پوښښ لامل کیږي.

- د ټاکنيزو مبارزو له پيله مخکې د خبرونو د تصحح کونکو ترمنځ د ځانګړو غونډو جوړول د هغوی د ښه پوښښ لپاره ښه لاره بلل کيږي. له دغو غونډو څخه موخه د خبري برخې د کارکونکو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول او ډاډه کيدل چې خبري ډله له يوبل سره په ښه توګه فعاليت کوي، ده. په دې برخه کې يوه اساسي پوښتنه داده، چې بيد څه کار وکړي؟ کيداي شي يو خبريال د يوې سيمې او يا يوې موضوع د خبري پوښښ لپاره موظف شي. په عين وخت کې د شته سيستم له مخې د نورو ګوندونو د فعاليتونو د خبري پوښښ لپاره هم خبريالان ټاکل کيږي تر څو په خبرونو کې انډول او بې پرې والي وساتل شي.
- خبري اداري له يوشان سرچينو څخه کار نه اخلي. په داسې حال کې چې د يوې خبري اداري کارکونکي لږ وي، کيداي شي د ډلې هر غړي څو دندې ترسره کړي. خو بيا هم د خبري ډلې ترمنځ غونډې، ډير اهميت لري.

### د خبريالانو چمتوالي

د خبريالانو چمتوالي د لاندې مواردو لرونکي دي:



- د هرې سياسي ختلاف وړ مسلې په اړه د اطلاعاتو پيدا کول، لکه د ګوندونو جوړښت او فعاليتونه، مالي سرچينې، ناتوانۍ او سيمه ايزې وړتياوې، په ملي او سيمه ايزه کچه د هغوی سياسي اهميت، تير او اوسني ايتلافونه، تيرې ټاکنيزې او مبارزاتي مهمې موضوع ګانې او لاسته راوړنې.
- د هر ګوند له وياند او يا د مبارزاتي ډلې له يو غړي سره د اړيکې ټينګول. کيداي شي يو خبريال وغواړي په بيړې سره دغوکسانو ته لاسرسي پيدا کړي. د مثال په توګه د غونډې د جوړيدو د نيتې او ځاي په اړه معلومات ترلاسه کول.د وياندانو او يا لوړ پوړو کسانو همکاري کولي شي له خبريال سره مرسته وکړي چې د يوې مسلې او يا د ټاکنيزو مبارزو د پرمختګ په اړه تر نورو مخکې غبرګون خپور کړي.
- د هغو مهمو ستونزو او موضوع ګانو د نوملړ جوړول چې وکړي له ګانديدانواو ګوندونو څخه د ځواب غوښتنه کوي.
- د هغو ټاکنيزو مسايلو د نوملړ جوړول چې ټاکل شوې په اړه يې خبرې اوبحثونه وشي.

خبريال چې په ملي کچه له رسنۍ سره فعاليت کوي، بايد شبکه په سيمه ايزه کچه سرچينې چمتو کړي.

- د هغو جواز ليکونو د قانوني والي په اړه ډاډ ترلاسه کولو چې د رسنيو خبريالان ځينې کار اخلي او همداراز د ټاکنيزو مبارزو د پوښښ د جواز ليک قانوني والي.
- له هغو قواعدو خبرېدل چې د مسولو ادارو لخوا د ټاکنيزو مسايلو د پوښښ په موخه د رسنيزو ادارو لخوا رامنځته کيږي.

### ۳.۲ د ټاکنيزو مبارزو د ادبياتو مديريت

ګوندونه او کانديدان پوهيږي چې رايه ورکونکو هر هغه څه چې په رسنيو کې ويني پرې باور کوي. له همدې امله سياستوالان او د هغوی پورې اړوندې ډلې هڅه کوي، د خبريالانو پر فعاليتونو نفوذ ولري، تر څو د هغوی ټاکنيزې مبارزې په ښه توګه تر پوښښ لاندې ونيول شي.



خبري کنفرانس په دې اړه يوه اغيزمنه لاره ده. خبري کنفرانس داسې وړاندې کيږي چې خبريالان په آسانۍ سره هغې ته لاسرسي پيدا کړي. همداراز په مطبوعاتي کنفرانس کې لنډې او واضحه جملې کاروي، داسې چې په آسانۍ سره پيغام وليږدوي او په ټوليزه توګه د خبر په توګه وکارول شي. مطبوعاتي پيغامونه داسې ترتيب کيږي چې د خبريالانو د څيړنې فرصت محدود کوي او انتقادي پوښښ چې له اصلي پيغام سره په ټکر کې وي راکموي.

له ټلويزيون څخه د ټولنيزې رسنۍ په توګه کار اخيستل. اوس زيا احتمال شته چې سياستوالان د سياسي بازار موندنې له ښو په کار اخيستو د خلکو پام ځانته واړوي. هغو په دې برخه کې له خپل ظاهر او د وينا له ښو کار اخلي. له همدې امله ځيني پروګرامونه طرحه کوي، تر څو د خپلو پروګرامونو د تشريح پر ځاي د خلکو له احساساتو سره لوبه وکړي.

له لاندو تګلارو کار اخيستل کولي شي خبريالان په ځينو دامونو کې له غورځيدو وژغوري:

- يواځې پر هغو اطلاعاتو چې د يو ګوند او يا کانديد لخوا ورکول کيږي بسنه ونکړي، بلکې هڅه وکړي د هغوی د فعاليتونو حقيقت روښانه کړي.
- يواځې مطبوعاتي اعلامېې او يوشمير نورې اعلامېې که هغه اړدې هم وي مه خپروئ. په

عوض کې هڅه وکړئ هغه څه چې دا کاندیدان وایي او په خپلو تیرو مقامونو کې ترسره کړي سره پرتله کړئ. همداراز دا روښانه کړئ چې په تیرو تاکنیزو مبارزو کې څه لاسته راوړنې لرلي وې. د دغو کاندیدانو د غوښتنو په اړه له کارپوهانو سره مرکې وکړئ او د ګټو خلاف موارد روښانه کړئ.

- هغه څه چې په خبري کنفرانسونو او یا اعلامیو کې راغلي دي، د نقل قول په توګه ځینې کار واخلئ او د هغې سموالي کاندیدانو او ګوندونو پورې اړوند وبولئ.
- یواځې د ګوندونو لخوا په غونډو کې د ګډونوال د شمیر په اړه پر معلوماتو بسنه مکوئ. د ګوندونو لخوا ورکړل شوې شمیرې د نورو خبري سرچینو له معلوماتو، سیمه ایزو اوسیدونکو، د پولیسو ځواکونو او د غونډې د ګډونوالو له معلوماتو سره پرتله کړئ.
- د کاندیدانو د موخې په اړه معلومات ترلاسه کړی، تر څو د هغوی په اړه په سمه توګه ریپوټ جوړ کړئ. د هغو خلکو غبرګون ته چې د یوه کاندید د لیدنې لپاره له یوه ښونځي، روغتون او یا بلې سیمې څخه راغلي پام وکړئ. آیا د یاد شوي کاندید ویناوې په خلکو کې غبرګون درلود؟ آیا دا ټول غبرګونونه مثبت وو؟ آیا له هغو کسانو چې له خلکو سره ګوري پوښتنې هم مطرح شوي دي؟ آیا دا پوښتنې خود جوشه وې؟ وروسته له هغه چې کاندید له سیمې څخه لاړ شي، په سیمه کې د خبریال پاتې کیدل د حقایقو د پوهیدو ښه لاره ده.
- هڅه وکړئ چې د کاندید رسمي پیغام د هغه له باور سره مطابقت لري که نه. که یو کاندید له یوه ښونځي لیدنه کوي او غواړي چې ووایي ښونه او روزنه د نوموړي له کاري لومړیو توبونو څخه ده، هڅه وکړئ او پیدا کړئ چې نوموړي تر دې وړاندې په دې برخه کې فعالیت درلود که نه.
- د حکومت د غړي کاندید د فعالیت، او د خپلواک ګوند د کاندید د فعالیت ترمنځ توپیر ومنئ.

### ۳.۳ وګړنيزه – محوري خبريالي

ګوندونه او کانديدان، د ټاکنيزو مبارزو پرمهمو موضوع ګانو په ټينګار سره هڅه کوي تر څو د هغوی د اجنډا رسمي برخه رسنيز پوښښ وي.

دا کار د دې لپاره په پام کې نيول کيږي تر څو کانديدان او ګوندونه د ټاکنيزو مبارزو پرمهال د مهمو او ملي مسلو يادونه ونکړي. خبريال بايد په داشان وضعيت کې ملي او عمده مسايل روښانه کړي، تر څو ګوندونه او کانديدان د هغو په اړه بحث او خبرو او همداراز د اوارۍ لارې پيدا کولو ته اړ کړي. په پوهنتونونو کې شته کار پو هان او د مدني ټولنو کارپوهان کولي شي په دې برخه کې له خبريالانو سره مرسته وکړي تر څو په اقتصادي، حکومتدارۍ، له اراضي څخه ګټه اخيستو، عامې روغتيا، ښوونې او روزنې، عدالت، بشري حقونو او بهرني سياست په برخو کې لارې پيدا کړي چې له مخې خبريالان هغو ته پاملرنه وکړي.

يو خبريال بايد خپله اصلي پاملرنه د وګړو ژوندانه ته واړوي تر څو د هغوی په انديښنو پوه شي او له نورو سره يې شريک کړي. يوشمير رسنيزې ادارې د هغو مسايلو پوهيدو ته چې رايه ورکونکي ورته پاملرنه کوي، د ټول پوښتنې په ترسره کولو اقدام کوي. يوشمير رسنۍ په مستقيمه توګه وګړو، او سيمه ايزو حکومتي چارواکو او د سيمه ايزو سازمانونو کارکونکو ته ورځي تر څو د خلکو او ټولنې هيلې پيدا کړي. په دې برخه کې تر اوسه هم يوه ساده لاره، سيمو ته ورتلل او له عادي وګړو سره خبرې کول دي.



خبريالان له بيلابيلو لارو په کار اخيستو کولي شي د خلکو غوښتنې څرګندې کړي او د ټاکنيزو مبارزو په چورليز يې بدل کړي.

- فردي حکايتونه خپاره کړئ تر څو د ټاکنيزو مبارزو مهم مسايل څرګند شي او د هر کانديد د وړانديز شوې حل لارې اغيزې روښانه شي. خبريالان د يادو مسايلو په مطرح کولو سره پر افرادو او ټولنو د هغو د اغيزو بيان او داسې مسايلو ته د سياستوالانو پام اړول چې په ټولنه کې په روښانه توګه مطرح شوي نوي، مرسته کوي.
- د هغو مسايلو په اړه چې د وګړو لخوا مطرح کيږي ريپوټونه خپاره کړئ؛ هغو مسايلو ته چې وګړي ورسره هره ورځ مخامخ کيږي لکه ، د بريښنا نوبتي بنديدل، د څښاک اوبو ته

لاسرسي، د واټونو ويجاړي، د تيلو د بيعې زياتوالي په ښونځيو کې د استادانو کموالي او د روغتونونو کموالي ته پاملرنه وکړئ. د خبريالانو لخوا د د غو مسايلو مطرح کول، کانديدان او ګوندونه اړباسي تر څو دغو ټکو ته پاملرنه وکړي.

- هر څه ته پاملرنه وکړئ؛ يو خبريال که د دندې ترسره کولو پرمهال وي که نه، بايد له خلکو سره چې اړيکه لري د هغوئ د شته ستونزو په اړه پوښتنه وکړي. د بقالۍ په يوې هټۍ کې خبر او بحث او يا په يوې پوسته خونه کې د دغو خبرو يادول کولي شي د مهمو ستونزو په اړه ځينې معلومات خبريال ته په لاس ورشي او د يوې څيړنيزې مقالې لپاره پيلامه وي.
- د لږکيو ډلو د استازو نظريات؛ اتحاديې، مسلکي ټولنې، د ښځو سازمانونه او د بشري حقونو اداري په خپل ريپوټ کې ياد کړي. د دغو ډلو نظريات د ذينفع ډلو استازي توب کوي، يعنې د هغو کسانو استازي توب چې نظرونه يې بايد د رسنيو لخوا خپاره شي.

## ۳.۴ د سياستوالانو مرکې



د تاکنيزو مبارزو د رسنيز پوښښ پرمهال، يوه مهمه موضوع د ګوندونو له مشرانو او کانديدانو سره مرکه کول دي. دا خبرې خبريالانو ته فرصت ورکوي تر څو د سياسي خپرونو په جزياتو پوه شي او له دغه سياستوال د شخصيت په اړه زيات معلومات ولري.

له سياستوالانو سره خبرې کول يو ډير حساس فعاليت دي چې د بشپړ چمتوالي، د مسايلو تحليل، وړتيا او د اړيکې رامنځته کول دي. هغه خبريال چې د سياستوالانو د ژوندانه د تاريخ په اړه مطالعه ولري، د مرکې پرمهال د پوښتنو په مطرح کولو کې به ښه موقف ولري او د موضوع پورې اړوندې پوښتنې به مطرح کړي او د خبرو پرمهال به پر موضوع مسلط وي.

## مرکې ته چمتوالي

د سياستوالانو د تير ژوند په اړه څيړنه وکړئ

- د هغه کس په اړه چې ټاکل شوې ورسره مرکه وکړئ، تر ممکنه حده معلومات راغونډ کړئ. د مرکه کيدونکي کس د تير ژوند په اړه څيړنه وکړئ. له کومه ځايه راغلي؟ په تير کې څه ويلي، ليکلي او ترسره کړي دي؟ د هغه مالي سرچينې کومې دي؟ خلک له هغه

څخه ډول ستاينه کوي؟ د نوموړي دوستان او سياسي مخالفين د هغه په اړه څه ډول فکر کوي؟

## پوښتنې چمتو کړئ

- د پوښتنو يو نوملړ جوړ کړئ او هومره وخت چې بايد دغو پوښتنو ته ځواب ورکول شي، وټاکئ. د خبرو پرمهال کيداي شي د جزياتو ترلاسه کولو په موخه اضافي پوښتنې هم وکړئ، خو ښه به دا وي چې د پوښتنو چوکاټ له ځان سره ولرئ.
- مهمې پوښتنې د مرکې په پيل کې مطرح کړئ. که چيرې مرکه لنډه شي تاسو د مهمو پوښتنو په مطرح کولوو سره تر ټولو مهم اطلاعات ترلاسه کوئ.
- پوښتنې بايد ساده، لنډې او مستقيمې مطرحه کړئ. په داسې حال کې چې پوښتنې ډيرې اوږدې، پيچلې او عمومي وي، يو ماهر سياستوالي په آسانۍ سره مرکه د ځان په گټه چلوي او يوائې به د پوښتنوهغې برخې ته ځواب ووايي چې د نوموړي په گټه ده.



## بيلابيلې پوښتنې چې بايد وپوښتل شي

- ياد شوي کانديدان کومه حل لاره مطرح کوي تر څو په هيواد کې موجودې ستونزې اوارې کړي؟ کومې لارې په لومړي توبونو کې راځي؟ دا د حل لارې به څه ډول تمويل شي؟ د ذکر شوي کانديد د گوند او سيال گوند تر منځ څه توپيرونه موجود دي؟ د دغه کانديد د بريا په صورت کې به سياسي ايتلاف ته اړتيا وي؟ که داسې اړتيا موجوده وي نو له چا سره او ولې؟ په داسې حال کې چې له داسې کس سره مرکه کيږي چې د دندې موده يې پايته رسيدلې او يا د اکثريت گوند غړي دي، پوښتنې بايد د هغو فعاليتونو او ژمنو په اړه چې گوند يې يادونه کړې وه او ترسره کړي ندي، مطرح کړي.
- له هغه کانديد څخه چې د سيمه ايزې چوکۍ لپاره سيالي کوي بايد د هغو ستونزو په اړه چې په سيمه کې موجودې دي پوښتنه وشي.
- د دې لپاره چې له کانديدانو روښانه ځوابونه ترلاسه کړئ، خپلې پوښتنې د هغو مسايلو په اړه مطرح کړئ چې خلکو د هغو په اړه له خبريالانو سره مرکه کړې ده.

## د مرکې ترسره کول

### د غږ له ثبتونکي څخه کار واخلئ

- له مرکه کيدونکي څخه د غږ د ثبت په اړه اجازه واخلئ. که موضوع داسې وي چې بايد ثبت شي، نو مرکه کيدونکي ته معلومات ورکړئ چې په دقيقه توګه د نوموړ له خبرو څخه د نقل قول اخيستو په موخه د مرکه کيدونکي غږ ثبت کيږي. دغږ ثبت به خبريال ته اجازه ورکړي تر څو ځوابونو ته پاملرنه وکړي او د هغې په لړکې فکر وکړي.
- د غږ د نه ثبت کيدو په صورت کې به خبريال د مرکې پر مهال يواځې پر خپلې حافظې او نوټ کړو ياداښتونو متکي وي. په داسې حالت کې نوموړي اړ کيږي تر څو د ځوابونو مهم ټکي ياداشت کړي. د مرکه کيدونکي له ځوابونو څخه د ياداشت اخيستو په صورت کې بايد خبريال په اختصاري توګه ليکنه وکړي او له مرکې وروسته، هغه ياداشتونه په مفصله توګه وليکي.



### د نيمه ترکيبي - پوښتنو له بڼې کار واخلئ

- په داسې حال کې چې مرکه کونکي، له مرکې مخکې د موضوع په اړه په ټولو پوښتنو نه پوهيږي، له دې بڼې په کار اخيستو کولي شي په مرکه کې پرانيستې پوښتنې ( هغه پوښتنې چې د بشپړ ځواب او اضافي معلوماتو د ورکړې لامل کيږي) له نيمه پرانيستو پوښتنو سره ( داسې پوښتنې چې د مشخصو ځوابونو د ورکولو اړتيا لري) او تړلو پوښتنو ( داسې پوښتنې چې د هو او نه په ويلو ځواب کيږي) ځاي پر ځاي کړي.
- داسې پوښتنې مطرح کړئ چې د يو بل مکمل اوسي او يا دا چې عينې پوښتنه د نورو کلونو په چوکاټ کې مطرح کړئ، تر څو زيات اطلاعات ترلاسه کړئ د زيات وضاحت او بيلګې د وړاندې کولو غوښتونکي شئ.
- ځوابونو ته ډيره پاملرنه وکړئ. يو خبريال بايد چمتو وي چې خپلې پوښتنې د مرکه کيدونکي کس د کلمو او مفکورې پر بنسټ مطرح کړي.

### د مرکې کنترول په خپل واک کې ولرئ

- خبريال د مرکې مسول دي. نوموړي بايد د خبرو کنترول له لاسه ورنکړي. هوښيار سياستوال پوهيږي چې څه ډول پوښتنې ته ځواب ووايي تر څو تاسو د هغه د پام وړ پوښتنه ځينې وپوښتئ. د مثال په توګه: "هو، ښايي... خو بله پوښتنه شته چې غواړم هغې ته ځواب ووايم..." ښه به وي چې ورته اجازه ورکړئ خپلې خبرې بشپړې کړي او که زياتې خبرې کوي، په ډير احترام سره يې خبرې قطع کړئ او د ريښتينې ځواب ترلاسه کولو په موخه بله پوښتنه مطرح کړئ.
- پر خپلو پوښتنو ټينګار وکړئ. خو په عين وخت کې، د مرکې وضعيت او موضوع ته له پاملرنې پرته، مقابل لوري ته احترام ولرئ. د مرکه کيدونکي ظاهري حرکاتو ته چې کولی شي د مرکې پر لوري اغيزه وکړي پاملرنه وکړئ. خبريال بايد موضوع په اړه څه ډول دريځ غوره کړي؟ خبريال بايد له موضوع سره په خوشبينانه حالت چلند وکړي.



### له مرکې څخه ګټه اخيستل

#### په مرکه کې شته حس حفظ کړئ

- په داسې حال کې چې مرکه په بشپړه توګه خپره شي، اصله موضوع به په سمه توګه مطرح نشي. که د هغې ځينې برخې خپرې شي، يا د مرکې په ترڅ کې اخيستل شوي ځوابونه له تفسير سره خپاره شي، او يا هم د مرکې يوشمير برخې د خبر په بڼه خپرې شي اغيزه به ولري. خبريال بايد متوجه وي چې خپرې شوې برخې بايد بايد د مرکه کيدونکي د پيغام اصلي انعکاس وي. که پيغام روښانه نوي، خبريال بايد له مرکه کيدونکي کس سره بيا اړيکه ونيسي او له هغه زيات وضاحت وغواړي.
- که ټاکل شوي وي چې مرکه د يو مقالې يوه برخه وي، نو بايد د مرکې له پايته رسيدو وروسته ژر تر ژره پر متذکره مقالې کار پيل شي. په دې صورت کې، خبريال بايد د مرکې مهمې برخې په خپله وټکي او هغه بيرون نويس کړي. د مرکې پرمهال ياداشت اخيستل، په غږيز فايل کې د نقل قول ځاي پر ځاي کول (په هغه صورت کې چې ثبت شوي وي) د هغو د تايد لپاره اغيزمن پرې وتي شي.

## د مخامخ مرکې د امکان نه لرلو په صورت کې، باید څه وکړو؟

### ټلفني خبرې

په داسې حال کې چې مخامخ خبرې امکان ونلري، کولای شئ له ټلفون څخه کار واخلئ. کولای شو له ټلفون څخه په کار اخیستو په مستقیمه توګه خبرې وکړو. په ټلفوني مرکه کې کولی شئ د مصاحبه کونکي غږ ثبت کړئ اویا له هغوې مهمې برخې یاداشت کړئ، خو په داسې حال کې باید له مرکه کیدونکي څخه د غږ د ثبت اجازه واخیستل شي او همداراز د ثبت توکي باید له مخکې آزمایل شوي وي.

### د ایمیل له لارې مرکه

دیجیتالي ټکنالوژي د دې مسلې لپاره بل ښه ځای استي دي. له دغې بڼې په کار اخیستوټول پوښتنې مرکه کیدونکي ته استول کیږي. خو په دې بڼه کې د پوښتنو د بدلون امکان نشته لکه په مخامخ مرکه کې چې امکان لري. د دغې مرکې ستونزه داده چې کیدای شي د مرکې پایله کم ارزښته وي. خو په عین حال کې کیدای شي پوښتنې دقیقې اوسي نو خبریال ته د محتوای د ارزښت د کموالي خطر راکمیږي.



### ۳.۵ نظر پوښتنه

د ټاکنو پرمهال دوه ډوله نظر پوښتنې ترسره کیږي. یو له دغو نظر پوښتنو، د ټاکنیزو موضوعاتو په اړه د وګړو د نظرونو د معلوملو په موخه د مطرح شویو مسایلو په تړاو د کاندیدانو او ګوندونو لخوا ترسره کیږي. او دوهمه نظر پوښتنه شهرت دي، چې په هغې کې کاندیدانو ته د خلکو لیوالتیا څرګندیږي. ګوندونه او کاندیدان کیدای شي د خپلو ټاکنیزو مبارزو د اغیزمنتیا په موخه نظر پوښتنې ترسره کړي، تر څو له دې لارې وتوانیږي خپل پروګرامونه د خلکو له غوښتنو سره سم برابر کړي.

سروې ګانې له مهمو اطلاعاتي سرچینو څخه شمیرل کیږي چې نشو کولای هغه له پامه وغورځوو. خو له هغې سره باید په احتیاط چلند وکړو. له سروې څخه د ترلاسه شویو

اطلاعاتو له کارولو مخکې باید خبریالان د هغو پایلې وه آزمایي. نظر پوښتنې د اهمیت له پلوه بدلون لري. یوشمیر د عمومي افکارو، او رسنیو د کنترول په موخه طرحه کیږي.
د سروې ګانو خبري ارزښت محدود دي، ځکه سروې ګانې له لږشمیر خلکو څخه د پوښتنو پر بنسټ ترسره کیږي. دا بهیر په یوشمیر سیمو لکه د افریقا په شمال کې له ستونزو سره مخامخ کیږي، ځکه امکان لري بې سوادي او ژبه د نظر سنجۍ ترسره کیدو په وړاندې ستونزې رامنځته کړي.

**سروې ګانې ګولې شي پر دموکراتیکو بهیرونو اغیزه وکړي او هغه تحریف کړي**. په سروې ګانو کې د مطرح شویو پوښتنو کیدای شي د رایه ورکونکو پر کړنو اغیزه وکړي. د مثال په توګه هغه کاندید چې په سروې کې تر نورو مخکښ بلل شوي، کیدای شي د خلکو نظر ځانته راواړوي. همداراز امکان لري یوشمیر رایه ورکونکي چې د سروې له مخې د هغو د پام وړ کاندید ناکام بللي شوي اعتراض وکړي.

**کیدای شي سروې ګانې د نامشروع موخو لپاره وکارول شي**. داسې چې دموکراتیکو بهیرونو ته زیان ورسوي. له سروې ګانو څخه داشان اناوړه ګټه اخیستنه مخ په ودې دموکراسۍ کې ډیره لیدل کیږي؛ په دغو سیمو کې د سروې ګانو او نظر پوښتنو تجربې د قانون له مخې تر پوښتنې لاندې راځي. امکان لري یوشمیر موسسې د ناوړه موخو ترلاسه کولو لپاره، له بې پرې بڼو په نه کارولو سره نظر پوښتنې ترسره کړي. د مثال په توګه په ټاکلو سیمو کې د نظر پوښتنې ترسره کول او د پوښتنو او ځوابونو وارمخکې جوړیدل تر څو تمویلونکې موسسه د پام وړ پایلې ترلاسه کړي.



**بیلګې:**
- حاکم ګوند، د حکومت له فعالیتونو د خلکو د رضایت ښودلو په موخه سروې ترسره کوي.
- د ولسمشریزو ټاکنو کاندیدان د دې لپاره چې د خلکو په منځ کې د مخالف کاندید تصویر خراب څرګند کړي نظر پوښتنې ترسره کوي.
- اقتصادي ډله د ځانګړې موضوع په اړه سروې ترسره کوي، تر څو پر ګوندونو ځانګړي

اقتصادي پروګرامونه تحمیل کړي.

- مخالف ګوند چې په ټاکنیزو درغلیو تورن دي ځکه سروې ترسره کوي چې و ښیي دا ګوند په ټاکنو کې بریالی دي.

یو خبریال باید لاندې موارد په پام کې ونیسي:

- د ریپوټ په جوړولو کې باید یوائې له هغو سروې ګانو څخه کار واخلو چې د متخصصو کسانو لخوا، د رښو او معتبرو بنو په کار اخیستو ترسره شوي وي.
- د سروې ګانو له اطلاعاتو باید په ډیر احتیاط کار واخلو.
- په هیڅ ریپوټ کې باید د یوې سروې له پایلو څخه کار وانخیستل شي.

## هغه پوښتنې چې باید د یوې نظر پوښتنې په اړه مطرح شي

- آیا ترسره شوې نظر پوښتنه خبري ارزښت لري؟
- آیا د دغې نظر پوښتنې پایلې له نورو نظر پوښتنو سره توپیر لري؟ کومو کسانو دا نظر پوښتنه تمول کړې ده او کومې موسسې دا نظر پوښتنه ترسره کړې ده؟
- سروې په څه ډول طرحه شوې وه؟ یادې سروې څوک رانغاړي دي؟
- د سورې ترسره کولو لپاره کومې بنې کارول شوي او څه وخت دا سروې ترسره شوې ده؟
- د سروې په بهیر کې کومې پوښتنې مطرح شوي دي؟ آیا د سروې پایلې د پوښتنو پر بنسټ دي، که د پوښتنو یوه برخه رانغاړي؟

## د نظر پوښتنې هغه اطلاعات چې باید په ریپوټ کې وکارول شي

- د هغه سیاسي ګوند، شخص او یا موسسې چې نظر پوښتنه یې تمویل کړې ده.
- د موسسې ځانګړنې چې نظر پوښتنه یې ترسره کړې ده.
- د هغو کسانو شمیر چې د نظر پوښتنې پرمهال یې پوښتنو ته ځوابونه ویلي دي. همداراز په سروې کې د احتمالي تیروتنو کچه.
- د سروې د ترسره کیدو نیټه.

### ۳.۶ د رسنیو لخوا په نا آرامو سیمو کې د ټاکنو د بهیر پوښښ

ځینو وخت په داسې هیوادونو کې ټاکنې ترسره کیږي چې له کړکیچ سره مخامخ وي. د حکومتي او اړیکو ځواکونو ترمنځ منازعه معمولان له یوه لاندې مورد سره مطابقت لري:

- د حکومت مخالفین غواړي، چې رژیم نسکور کړي، ځکه له ټولو خلکو غواړي چې ټاکنې تحریم کړي تر څو حکومت د ټاکنو له لارې مشروعیت ترلاسه نکړي.
- د حکومت مخالفان د هیواد د یوې برخې د بیلولو غوښتونکي دي، ځکه د هغې سیمې اوسیدونکي د ټاکنو د تحریم غوښتنه کوي، چې له دې لارې ژر خپلې موخې ته ورسیږي.
- حکومتي او مخالفو ځواکونو د سولې د ټینګښت پر سره هوکړه کړې هغه هم په دې شرط چې په هیواد کې آزادې، عادلانه او رڼې سراسري ټاکنې ترسره شي.

په پورتنیو شرایطو کې د ټاکنو رسنیز پوښښ کول شي خبریالانو ته پراخ ګوښونه متوجه کړي. په داشان شرایطو کې باید خبریالان دخبریالۍ اخلاقي اصول، د مسلکي واي مسولیتونو، دقت او بې پریوالي ته جدي پاملرنه وکړي. همداراز هغو مواردو ته چې د خبریال امنیت ساتلو ته اړین دي له پامه ونه غورځوي.



### احتیاط، بې پریوالي او انډول

- له ترلاسه شویو منابعو او اطلاعاتو باید په ډیر احتیاط کار واخیستل شي. غلط معلومات د منازعې یوه مهمه وسله بلل کیږي.
- بشپړه بې طرفي مراعات کړئ. بې پریوالي د دې لامل کیږي چې تر ممکنه حده د خبریالانو امنیت وساتل شي.
- انډول په پام کې ونیسئ، په هغو سیمو کې چې د حکومت وسله والو مخالفینو له خلکو غوښتي دي چې په ټاکنو کې ګډون ونکړي خبریالان کولي شي له دریو سرچینو د اړتیا وړ معلومات ترلاسه کړي: ۱) هغه کسان چې له ګواښ سره سره په تاکنو کې برخه اخیستې. ۲) هغه کسان چې د ګواښونو له ویرې د رایو ورکولو مرکزونو ته ندي ورغلي. ۳) هغو کسانو چې د حکومت له وسله والو مخالفانو د ملاتړ په موخه په ټاکنو کې برخه نده اخیستې. ۴) هغو کسانو چې د رایه ورکولو په مرکزونو کې د تاوتریخوالیو له ویرې په ټاکنو کې برخه نده اخیستې.

### د مصونیت قواعد

- تل هڅه وکړې د خپل هویت پورې تړول مربوط اسناد لکه، تذکره، د رسنیو ځانګړي کارت، د خبریالۍ د فعالیت رسمي اجازه لیک، د سفر اجازه لیک او داسې نور اسناد له ځان سره ولرئ.
- هیڅ کله وسله، پوځي جامې، پوځي بوټان او نور داسې توکي چې امکان لري د ناوړه پوهاوي لامل کیږي له ځان سره مه لیږدوئ.
- هیڅ کله په یواځې سره سفر مکوئ، مګر چې د نورو غیر دولتي موسسو غړي او یا همکاران له تاسو سره وي. هیڅ کله د کاندیدانو او سیاسي مشرانو د نفوذ لاندې سیمې څخه په یواځې سر لیدنه مکوئ.
- د خپل سفر په پروګرام په دقت سره عمل وکړئ تر څو د جګړې له سیمې سره مخامخ نشئ. ترلاسه شوي اطلاعات به منظمه توګه خپل مرکزي دفتر، دوستانو او یا خپلې کورنۍ ته واستوئ.
- د سپې لخوا له سفر کولو ډډه وکړئ او د شپې بندیز مراعات کړئ.
- د سیاسي غونډې او یا ستر لاریون د خبري پوښښ پرمهال سیمه په دقت سره وڅارئ او داسې ځای چې د تاوتریخوالیو په صورت کې ورته پناه وشې وړاي په نښه کړئ.
- د ستونزې د راپیښیدو په صورت کې تیښته مکوئ، څکه کیدای شي په نښه شئ. په هغو سیمو کې چې د جګړې لومړۍ لیکې دي، په مستقیمه توګه له یوه لوري بل لور ته مه تیریږئ.



### ۳.۷ په بې ثباته اوضاع کې د ټاکنو رسنیز پوښښ

رسنۍ کولي شي د سولې او دموکراسۍ د ټینګښت په برخه کې مهمه ونډه ولري. لکه څنګه چې کیدای شي د شایعاتو، پروپاګندو په خپرولو سره په ټولنه او خلکو کې د بې اعتمادۍ او کرکې، او د منازعې او جګړې لامل شي.

بله ستونزه داده چې د مسلکي زدکړې د نلرلو له امله کیدای شي د یوې رسنۍ خبریال له کرکه راپارونکي لحن څخه کار واخلي، البته پرته له دې چې د دغه کار د پایلو په اړه خبر وي.

د ټاکنیزو مبارزو پرمهال سیاسي مناظرې کولی شي د کاندیدانو او ګوندونو ترمنځ د ناوړه لحن د کارولو زمینه برابره کړي.
خطر هغه مهال خپل اوج ته رسیږي چې له کړکیچ څخه د راوتو په حال هیواد کې ټاکنې ترسره شي. ټاکنې د سیاسي ځواکونو ترمنځ د تفاوتونو د زیاتیدو لامل کیږي. همداراز له سیاسي منازعو څخه شکایتونه پیدا کیدل چې کیدای شي د جګړې بالقوه لامل وي.

### په ټولنه کې له موجودې سیاسي فضا څخه خبر اوسئ

په حساسو شرایطو کې د دموکراسۍ او سولې له بهیر سره د خبریالانو ونډه زیاته مرسته کوي. خبریالان باید د څارنې او تحلیل له ښو وړتیاو برخمن وي، تر څو د ټولنې په سیاسي – ټولنیزه اوضاع پوه شي او په ټاکنو کې موجود سیاسي خطرونه تشخیص کړي.
یو خبریال باید د کړکیچ د مخنیوي په برخه کې له خپل ټول وس څخه کار واخلي او هڅه وکړي چې کړکیچ راکم شي. دا تګلاره یوازې د مسلکي اصولو په چوکاټ کې د اطلاعاتو د راغونډولو پرمهال، لکه دقت، بې پریوالي او صداقت کې عملي شي. د لاژم چمتوالي لرل او له بلقوه سرچینو څخه چې د ټاکنو پرمهال د کړکیچ په فعالیدو کې ونډه لرلی شي معلومات لرل یو خبریال ته اړین دي.

### اړینې پوښتنې

- د کړکیچ او یا منازعې اصلي لوري څوک وو، دلیل یې څه وو او د منازعې وړ مسایل کوم وو؟ د مناعې د اوارې لاملونه کوم وو او کوم کسان د هغو ترشاه ولاړ وو؟ که د منازعې د اوارۍ لپاره کومه هوکړه شوي وي، خبریالان باید د هغې پر جوړښت او مهمو ټکو خبر وي.
- کله چې د منازعې او کړکیچ لاملونه توکمیز، نژادي او یا ټولنیز بدلونونه وي، خبریال باید د اړوندو نژادونو او توکمونو په اړه له واقعیت تونو څخه ځان خبر کړي. همداراز خبریال باید د هغو اغیزو ډولونه چې ټولنه یې اغیزمنه کړې هم پوهاوي ترلاسه کړي.

د پورتنیو مسایلو په اړه پوهاوي لرل خبریالانو ته ډیر مهم دي. ځکه کیدای شي خبریالان له هغو اعمالو او ویناو چې د کړکیچ د بیا رامنځته کیدو لامل شي په اړه معلومات ولري او له

دې لارې د هغو ستونزو او خطرونو په اړه چې د ټاکنو په وړاندې ليدل کيږي رپوټ ورکړي.
خبريالان کولې شي د موجودو ستونزو په اړه د رپوټ په ورکولو سره، ګوندونه او کانديدان اړ کړي چې پر خپلو هوکړو او ژمنو عمل وکړي.

### مشوره

- هڅه وکړئ داسې مهمې ستونزې او مسايل چې ټولنه وسره مخامخ ده تر پوښښ لاندې ونيسي، تر څو وشئ کولای داسې مسايل چې د منازعې لامل کيږي، څنډې ته کړئ. کيدای شي د لاملونه سياسي ستونزې، د څښاک د اوبو، عامې روغتيا او يا د پوهنې د سيستم ستونزې وي. د دغه کار موخه د نژادي، مذهبي او ټولنيزو بدلونونو پرته د ټولنې ټولو وګړو ترمنځ د يووالي رامنځته کول دي.
- د هيواد عادي وګړو ته اجازه ورکړئ تر څو د خپلو ستونزو په اړه خبرې وکړي. کيدای شي دا بڼه د ټلفون له لارې له خلکو سره د مناظرې او بحثونو جوړول وي. خو پام وکړئ چې دا پروګرام په ټولنه کې د منازعې د رامنځته کيدو لامل نشي.
- هغو اصولو او قواعدو ته چې د خبريالۍ پرمهال بايد وکارول شي، پاملرنه وکړئ. له واقعيت، انډوليز او بې پرې لحن څخه کار واخلئ.

بي هويته شخص: «مونږ هيڅ هم د پټولو لپاره نلرو!»
چپ لاسته شخص: رسنۍ

Headless figure: «*WE HAVE NOTHING TO HIDE!*»
On figure at left: MEDIA






KOZA©

**لنډیز: د ټاکنو پرمهال د خبریالانو دستورالعمل**

له بیلابیلو فشارونو چې د ټاکنو پرمهال رامنځته کیږي ځخه په امان کې پاتې کیدو په موخه باید خبریالان خپلو مسلکي او اخلاقي اصولو ته ژمن وي. اطلاعات په دقیقه توګه تصدیق شوي وي، متوازن وي، پرې وي او د انساني کرامت لرونکي وي. خبریال باید تل په پام کې ولري چې د هغوی فعالیت یوائې د ټولنې د عادي وګړو د ګټو لپاره دي.

پورتنیو مسایلو ته په پام سره، باید خبریال لاندې ټکي په پام کې ولري:

- **له ټولو ګوندونو او کاندیدانو آن له هغو کسانو سره چې له حکومت سره زیات مخالفت لري، د مرکې د مکلفیت له حق څخه خبر اوسئ.** ټول هغه مسایل چې د ټاکنیزو مبارزو پورې اړه لري او د خلکو او هیواد راتلونکي ته مهم دي، د ریپوټ ورکولو لپاره مهم موضوعات دي. یوائې په څو ځایونو کې د بیان د آزادۍ محدودول مشروعیت لري. له دې امله خبریال باید په هیڅ ډول د بیلابیلو نظرونو او افکارو د خپریدو مخنیوي ونکړي.
- **کره او تصدیق شوي اطلاعات خپاره کړئ،** تر څو ستاسو فعالیت با اعتباره وبلل شي. خبر باید په متوازنه، او واقعي توګه خپاره شي. نه په جبري توګه د ترلاسه شوې پایلې په توګه.
- **د پروګرامونو او مناظرو په اړه** د ریپوټ ورکولو پرمهال د ټولو سیاسي اړخونو نظرونه پرته له دې چې خپل شخصي نظر پکې دخیل کړئ ریپوټ ورکړئ.
- **خپله خپلواکي وساتئ، د هر ډول سیاسیو ټولنیز او مالي فشار په وړاندې چې** پر ټاکنو د اغیزې لرلو لپاره طرحه شوي مقاومت وکړئ. یوائې له خپل مدیر څخه په مستقیمه توګه او خپل اخلاقي حس څخه اطاعت وکړي. د اطلاعاتو له غلا، پلور او پیرلو څخه ډډه وکړئ.
- **تل د اطلاعاتو له مثبتو او یا منفي اغیزو څخه خبر اوسئ.** خبریال باید له نرمې او بې پرې ژبې څخه په کار اخیستو خپل اطلاعات خپاره کړي. هغه موضوع ګانې چې امکان لري په بالقوه توګه د کړکیچ لامل شي په احتیاط وکاروئ.

**د ټاکنیز بهیر ځانګړنې**

په داسې هیواد کې چې د بیارغونې او دموکراسۍ ته د لیږد په حال کې وي، د یوه خبریال

دنده يوائې د سياسي مسايلو پوښښ ندي. هغه بايد پيدا کړي چې آيا د رڼو، عادلانه او با اعتباره ټاکنو ترسره کيدو لپاره شرايط موجود دي که نه. پرته له دې چې د قاضي، پليس او يا د ټاکنو د کميسيون د غړي دنده ولوبوي، يو خبريال بايد له هغو بې نظميو، تيروتنو او ناوړه ګټو اخيستو چې ثبت کړي دي خلک خبر کړي.

سربيره پر دې، بايد يو خبريال لاندې ټکي هم په پام کې ولري:

- **د ټاکنو د قانوني او حقوقي مسايلو په اړه ريپوټونه خپاره کړئ.** ډيره پاملرنه د کانديدانو د وړتياو معيارونو او د ټاکنيزو حوزو ويش ته وکړئ.
- **د رايه ورکونکو د نوم ليکنې طرزالعمل په دير احتياط سره وڅيړئ.** له مسولينو سره په همکارۍ کې، روښانه کړئ چې د وګړو نوم ليکنه او نوملړجوړول په روڼتيا او سمه توګه پر مخ ځي.
- **د ټاکنو د خپلواک کميسيون او نورو ملي سازمانونو په اړه چې** د ټاکنو پرمهال ونډه لري، څيړنه وکړئ.



- **ثابته کړئ. هغه حقوق او مکلفيتونه چې** د ټاکنو په طرزالعمل کې ګوندونو او کانديدانو ته په پام کې نيول شوي، په سمه توګه عملي کيږي که نه.
- **وګورئ چې آيا ټولو ګوندونو او کانديدانو ته.** له رسنيو څخه په ځانګړې توګه هغو رسنيو کې چې عامه ملکيت پيژندل کيږي، د کار اخيستو مساوي فرصت ورکول شوي که نه.
- **د ټاکنو په لومړۍ ورځ د رايه اچونې له زياتومرکزونو ليدنه وکړئ او** پوه شئ چې آيا رايه ورکول او د رايو شميرنه په سمه توګه ترسره کيږي.
- **ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا د ټاکنو د پايلو له رسمي اعلانه مخکې** د پايلو له اعلان څخه ډډه وکړئ.
- **د دې په اړه چې ولې د ټاکنو پايلې ځنډيدلې شوي او** آيا د شکايتونو له ثبت وروسته، اړوند طرزالعمل پلي شوي دي که نه معلومات ورکړئ.
- **بايد پوه شئ. چې د ټاکنو د بې نظميو په منځ کې چې** د ټاکنو د کميسيون د کارکونکو لخوا

رامنځته شوي او هغه درغلي چې د پایلو د بدلون په موخه ترسره شوې، توپیر قایل شي.

- **په ټاکنو کې د درغليو او بې نظمیو په اړه د څېړنې په موخه له سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو د سرچینو په توګه کار واخلئ.** خو ځان ډاډه کړئ چې د داغو ادارو لخوا د ناوړه کارول کېدو څخه په امن کې اوسئ.

**د ټاکنیزو مبارزو خبري پوښښ**

د خبریالانو په وړاندې یوه ستره ستونزه داده چې، وشي کولای هغو اطلاعاتو ته پام واړوي چې هغه رایه ورکونکو ته ارزښتمن دي. یو خبریال باید د اطلاعاتو په کارولو او د ځان د امنیت د ټینګښت په برخه کې ډېر احتیاط وکړي.

- **د خبریالۍ فعالیت باید د ټاکنیزو مبارزو له پیله مخکې**، د ګوندونو او کاندیدانو په اړه د اطلاعاتو په راغونډولو سره پیل شي. د ټاکنیزو مبارزو له مسولینو سره باید اړیکه ونیول شي د وګړو د اندیښنې وړ موضوع ګانې باید تشخیص شي.



- **د کارپوهانو، د پوهنتون استادانو او د مدني ټولنې** د بنسټونو د مسولینو بحثونه او مرکې له خبریالانو سره مرسته کوي تر څو عمده او مهم مسایل چې په ټاکنیزو مبارزو کې چورلیز بلل کیږي تشخیص کړي.

- **یوخبریال باید یواځې له ګوندونو او کاندیدانو څخه د ترلاسه شویو اطلاعاتو په اړه خوښ نه اوسي**، بلکې باید هڅه وکړي تر څو دا اطلاعات توضیح او تفسیر کړي. د حکومت د غړي په توګه د فعالیت او د سیاي فعال په توګه د فعالیت ترمنځ توبیر اړین دي.

- **د ټاکنیزو مبارزو پرمهال له یوه کاندید سره مرکه کول** ستونزمن کار دي چې زیات چمتوالي او د مناسبو پوښتنو جوړولو ته اړتیا لري.

- **د نظر پوښتنو له پایلو سره باید په ناغېړۍ چلند ونشي**، بلکې له ډېر احتیاط سره باید وکارول شي. د ترلاسه شویو اطلاعاتو کیفیت ته په کتو او دا چې کومو کسانو دا نظر پوتمویل کړې ده هم باید پاملرنه وکړي.

خبریالان د دموکراتیکو ارزښتونو په پراختیا او د سولې په ټینګښت کې مهمه ونډه لري. دا

ونډه هغه مهال مهمه کیږي چې په ټولنه کې سیاسي تاوتریخوالي راپورته شي. د ښارنې او د مسایلو څېړل د خبریال یوه ځانګړنه ده. داوړتیاو خبریال ته فرصت ورکوي تر څو پېچلې سیاسي ـ ټولنیزې مسلې درک کړي او شته خطرونه وپېژني. د مسلکي او اخلاقي قوعدو له مخې، خبریال باید هڅه وکړي چې د ټولنې ستونزې اوارې کړي.

This handbook has been prepared with the cooperation of

CARTOONING FOR PEACE
DESSINS POUR LA PAIX

هیروی باراکاند (**Herve Barraquand**)، د مطبوعاتو د آزادۍ او د رسنیو د تعدد د برنامو مسؤل
مارتین آنستیت (**Martine Anstett**) د سولې، دموکراسي او بشري حقونو د هیات رییس

د فرانسوي ژبو هېوادونو نړیواله سازمان
۱۹-۲۱، بوسکي واټ ۷۵۰۰۷، پاریس
برېښنالیک: oif@francophonie.org
ویب‌پاڼه: www.francophonie.org

آمبرواز پییر (**Ambroise Pierre**)
بې پولې راپور ورکوونکي
۴۷، لهفیفان واټ ۷۵۰۰۲، پاریس
برېښنالیک: rsf@rsf.org // ویب‌پاڼه: www.rsf.org

بې پولې راپور ورکوونکي
۴۷، لەفیفان واټ ۷۵۰۰۲، پاریس
تیلیفون: ۸۴ ۸۴ ۸۳ ۴۴ ۱ (۳۳)
فکس: ۵۱ ۱۱ ۲۳ ۴۵ ۱ (۳۳)
برېښنالیک: rsf@rsf.org
ویبپاڼه: www.rsf.org

د فرانسوي ژبو هېوادونو نړیواله سازمان
۱۹-۲۱، بوسکي واټ ۷۵۰۰۷، پاریس
تیلیفون: ۰۰ ۳۳ ۳۷ ۴۴ ۱ (۳۳)
فکس: ۹۸ ۱۴ ۷۹ ۴۵ ۱ (۳۳)
برېښنالیک: oif@francophonie.org
ویبپاڼه: www.francophonie.org

Printed by: A.P.H / aazem.pp@gmail.com